# سیمې ته په ښه ډول رسېدل

د زکسوني-
انالټ په ایالت کې د کډوالو لپاره مالوماتي لارښود



# سلامونه

**ګرانه لوستونکیه،**

په عمومي ډول له خپل کوره د یوه خطرناکه او سترې کونکي ټبښتې وروسته، ته زکسوني–انالټ ته راغلی یې، د هرکلي په لومړني مرکز کې دې د پناه غوښتنې غوښتنلیک سپارلی او اوس یوه ښار یا کلي ته رسېدلی یې چې هیله ده زمور په هېواد کې لومړنی کور وموميِ.

په ځانګړې ډول، که ستا د ساتنې یا خوندیتوب غوښتنلیک لا له وړاندې منل شوی وي، نو اوس باید ته له ځانه ګڼې نوې پوښتنې وکړې: زه د ژوندانه یا ورځنۍ ژوند لپاره څرنګه ګټې یا مرستې لاسته راوړلی شم؟ چېرته اوسېدلی شم؟ خپل اپارتمان څرنګه فرشولی شم؟ چېرته جرمن ژبه زده کولی شم؟ زما د تعلیم او کار سندونه څه ډول منل کېږي او څرنګه کولی شم ژر تر ژره روزنې او کار ته لاسرسی وموممِ؟ زما ماشومان کوم ښوونځي ته تلی شي؟ دلته ګډ ژوند څرنګه وي او څوک راته لومړنی لارښونه کولی شي؟ د خپلې ژبې خلک چېرته موندلی شم او د زکسوني–انالټ خلک چېرته پېژندلی شم؟

څومره ژر چې دغو او ډېرو نورو پوښتنو ته ځوابونه وموميِ، دومره ژر کولی شئ په ښه ډول زکسوني–انالټ ته راشئ او دلته ځانونه بلد کړئ. دغه مالوماتي لارښود به درسره مرسته وکړي.
زکسوني–انالټ یو تاریخي او د کلتور او ښکلا له پلوه یو متنوع ایالت دی. دغه ایالت خپلو اوسېدونکو ته د تعلیم او روزنې د پام وړ فرصتونه، د لوړ کیفیت پوهنتونونه، ښکلي ښارګوټي او کلي، ګڼ سپورتي کلبونه او کلتوري بوختیاوې یا فعالیتونه برابروي. دلته، تاسو ژمن خلک موندلی شئ چې ستاسو له حالت سره خواخوږي لري او غواړي چې تاسو دلته بلد شئ او په دایمي ډول ښه احساس وکړئ.
په زکسوني–انالټ کې ډېر خلک غواړي چې دلته په ډېپیل کې له تاسو سره مرسته وکړي او په خوښئ به له تاسو سره د خبرو او عمل مرستې وکړي. د ممکنه منفي تجربو له کبله حوصله له لاسه مه ورکوئ. په دغه لارښود کې، تاسو کولی شئ د رونې اندو او ژمنو خلکو د موندلو او پېژندلو ګڼ مالومات لاسته راوړئ.

**په زکسوني–انالټ کې درته د زړه له کومې ښه راغلاست وایو، او غواړو چې په ښه ډول راشئ!**

**Susi Möbbeck**
Staatssekretärin im Ministerium für Arbeit, Soziales
und Integration des Landes Sachsen-Anhalt
Integrationsbeauftragte der Landesregierung



# د مالوماتو د دغه لارښود په اړه

که مو د پناه غوښتنې غوښتنلیک سپارلی وي او د زکسوني–انالټ په یوې ښارواليِ کې اوسېږئ، نو دغه لارښود به له تاسو سره ستاسو په لومړنۍ لارښونې او بلدتیا کې مرسته وکړي.

په **نهو فصلونو** کې به تاسو لاندې مواد او مالومات لاسته راوړئ:
- په زکسوني–انالټ او ایالتي سیمه کې د ژوند او ورځنۍ مسلو په اړه مهم مالومات.
- د هغو وړاندیزونو او پروژو په اړه مالومات چې له تاسو سره د ژوند په مختلفو حالتونو کې مرسته کولی شي
- پر انټرنټ او په دفترونو کې د اړیکو او تماسونو لینکونه او شبکې چې په زکسوني–انالټ کې به ستاسو له لومړنۍ لارښونې او بلدتیا کې مرسته وکړي

د **خدمتونو برخه** د زکسوني–انالټ ایالت کې د لومړنۍ لارښونې او بلدتیا لپاره ځانګړي مواد او ادرسونه لري.
په ټولو مالوماتو کې اوسنی قانوني حالت (د ۲۰۱۶م کال نومبر) په پام کې نیول شوی دی. د ځای د کمښت له کبله، دغه مالومات په ټولو برخو کې بشپړ نه دي. په ځانګړې ډول که تاسو د پناه غوښتنې د حق په اړه پوښتنې لرئ، نو مور درته سپارښتنه کوو چې د اوسني حالت په اړه د مشورې له اړوندو دفترونو یا د بهرنیانو د ثبت له دفترونو مالومات لاسته راوړئ.

د دغه مالوماتي لارښود **چاپ شوې بڼې** د زکسوني–انالټ په مختلفو سیمو کې په دغو ژبو: پښتو، عربي، جرمني، انګلیسي، فرانسوي، فارسي، روسي، سربیایي او تګرینایي په وړیا ډول لاسته راوړلی شئ.
انلاین بڼې یې د زکسوني–انالټ پر انټرنټي پاڼه (په ټولنه کې په ښه ډول یوځای کېدل) موندلی شئ، د موبایل وېبپاڼې په توګه، او دغه راز د وېبپاڼې اپ په ډول یې لاسته راوړلی شئ، او دا ټول په دوامداره توګه تازه یا اپډېټ کېږي.

**په هر صورت:** د اوس لپاره به تاسو په ایالتي هرکلي مرکز (LAE / ZASt Halberstadt) کې یو لارښود لاسته راوړئ، **د کټوالو لپاره مالوماتي لارښود „رسېدل او نور“**.

1 Zum Beispiel bei Migrationsberatungsstellen, Ausländerbehörden, Sozialämtern, Jobcentern, Agenturen für Arbeit oder Wohnungsbaugesellschaften.

# زکسوني انالټ خپل ځان معرفي کوي

*څومره ډېر وخت چې تاسو په خپله ښاروالۍ کې اوسېدلي یاست، دومره ډېر وخت به ولرئ چې پر مسایلو ځان پوه کړئ. د مثال په ډول، دا چې په زکسوني_انالټ کې د ژوند جوړولو ډېر دلیلونه شته دي. ځکه ایالتي اداره ډېر وړاندیزونه لري:*

**زکسوني_انالټ په مرکزي جرمني کې موقعیت لري.** لوی ښارونه یې دیساو_روزلاو، مګډیبرګ او سال دي، له نورو ګاونډیو ښارونو لکه لیپزیګ (سوېل لور)، برلین (شمال لور) او هنوور (لوېدیځ لور) سره په ښه ډول نښلېدلی دی.

**د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۶ کلونو تر منځ په زکسوني_انالټ کې د بهرنیو اتباعو شمېر دوه برابره شوی دی.** اوسمهال په کې شاوخوا ۱۰۰،۰۰۰ بهرني اتباع په ښارونو، کاونټیو او ښاروالیو کې اوسېږي. په دوی کې په دودیز ډول د اروپایي ټولنې لکه پولنډ، رومانیا او د روسیې فدراسیون اتباع شامل دي. د ډېرو کډوالو تر څنګ، د مهاجرت قضیې لرونکي خلک هم په زکسوني_انالټ کې اوسېږي. دوی په طبیعي ډول یا د تابعیت لاسته راوړلو له بهیر تېرېدو وروسته د جرمني تابعت لاسته راوړی دی او یا هم د هغو ماشومانو په توګه چې دلته زېرېدلي د جرمني تابعیت لري.

**زکسوني_انالټ په ټولنه کې د کډوالو په ښه ډول یوځای کېدو ته ژمن دی.** د ښاروالیو له خوا کډوالو ته د هرکلي، د استوګنې او د ژوند د نورو امکاناتو برابرولو ژمنتیا سره او دغه راز کډوالو ته د ژبې د زده کړې فرصتونو یا د دندې او روزنې لاسته راوړلو بهیر کې دغه ایالت مرسته کوي. د هرکلي خدمتونو (Willkommensbegleitung) په څېر پروژې، په ټولنه کې د کډوالو د یوځای کېدو چارو افسران یا د ایالتي رضاکاره خدمت (BFD) اداره په ټولنه کې د کډوالو د یوځای کېدو اوږد بهیر کې مرسته کوي.

**په زکسوني_انالټ کې یو لوی شمېر خلک د کډوالو پر وړاندې رون اندي او مرسته کونکي یا همکار دي.** دوی په مسلکي ډول یا په خپل فارغ وخت کې له کډوالو سره مرسته کوي تر خو کډوال خپل ژوند تر وسې وسې په خپلواک ډول او په خپلو متو پر مخ یوسي او دلته ځانونه راحته او ارام احساس کړي.

**زکسوني_انالټ نویو راغلیو کډوالو ته ګڼ فرصتونه وړاندې کوي، د مثال په ډول له دې لارو:**

- د ژبې د زده کړې او په ټولنه کې په ښه ډول د یوځای کېدو کورسونو مرسته
- د ښوونځي او تعلیم مرسته، په ځانګړې ډول ځوانو کډوالو لپاره
- د دندو فرصتونو مرسته او د تعلیم او روزنې پراخ فرصتونه، په ځانګړې ډول له ۲۵ کلونو د ټیټ عمر کډوالو لپاره
- مرستې او مشورې، د مثال په ډول چارواکو سره د رسمي کارونو پر مخ وړلو او د تعلیم او روزنې د پرېکړو په تړاو مرستې
- په لوبیزو، کلتوري او تفریحي فعالیتونو کې د ګډون امکانات
- په ټولنو، پروګرامونو او د کډوالو په ادارو کې ګډون
- له ژمنو اتباعو یا ښاریانو سره لیده کاته یا خبرې اترې.



# فهرست


**لومړی فصل – عرضه، ګټې یا منفعتونه، مشورې ..... 8**
د منل شویو کډوالو لپاره ټولنیزې عامه ګټې یا منفعتونه: ..... 8
د پناه غوښتونکو، زغمل شویو کډوالو او هغو کسانو لپاره ټولنیزې عامه ګټې
او منفعتونه چې اړ دي هېواد خوښ کړي ..... 9
د ځایي مشورو وړاندیزونه ..... 10
د بې سرپرسته ټیټ عمر کډوالو (UMA) لپاره مرستې ..... 10
د ځوانو کډوالو او د هغوی د میندو او پلرونو لپاره مشورې ..... 11
د ځوانو مهاجرینو لپاره مشورې ..... 11
په محاروو او خبرو اترو کې مرسته ..... 12

**دوهم فصل – ښاروالۍ ته رسېدل ..... 14**
د ژوند حالت جوړول او ورځنی ژوند تنظیمول ..... 14
د یوه بنسټیز بانکي حساب پرانیستل (Basiskonto) ..... 14
د پیسو د لېږد خدمتونه ..... 15
ارزانه خواړه ..... 15
ارزانه جامې ..... 15
د کور ارزانه وسایل ..... 15
د موبایل تیلیفون قراردادونه ..... 16
انټرنټ ته لاسرسی ..... 16
د عامه ترانسپورت په وسیله سفر کول – د بس او ریل کارول ..... 16
د سړک په ترافیکو کې مناسبه رویه ..... 17
د لامبه عامه حوضونو او د لامبا اوبو څخه ګټه اخیستنه ..... 17
له نورو سره لیدل او خپله ټولنه موندل ..... 18
بیمه – د کډوالو مسولیت ..... 19
د استوګنې د مخې په دروازه کې قراردادونه او سوداګري ..... 19
په ببرنیو حالتونو کې لازم ګامونه یا اقدامونه ..... 19

**دریم فصل – استوګنه ..... 20**
د اوسېدو اړتیاوې (Wohnsitzverpflichtung) ..... 20
استوګنځی ..... 20
یو اپارتمان په کرایه نیول ..... 21
په کور دننه د مناسبې هوا ډاډمنول ..... 22
د کثافاتو تنظیمول ..... 22
د ښه ګاونډیتوب ډاډمنول ..... 23

**څلورم فصل – د جرمن ژبې زده کول او په ټولنه کې په ښه ډول د یوځای کېدو بهیر وده ..... 24**
د جرمن ژبې په مټ په اسانۍ سره خبرې کول او ورځنی ژوند په ښه ډول پر مخ وړل ..... 24

په ټولنه کې په ښه ډول د یوځای کېدو کورسونه موندل او په کې ګډون کول ..... 24
په ټولنه کې په ښه ډول یوځای کېدو کورس لپاره نوملیکنه ..... 25
د ژبې د زده کړې کورسونو ته په ټولنه کې په ښه ډول د یوځای کېدو کورسونو له حق پرته لاسرسی ..... 26
د زده کړې په کلبونو او د محاورو په کورسونو کې د جرمن ژبې زده کول ..... 26
د جرمني ژبه په انلاین بڼه زده کول ..... 27

**پنځم فصل – د کار بازار او روزنه ..... 28**
کار او روزنه ستاسو لپاره ولې مهم دي ..... 28
کار او روزنې ته د لاسرسي فعاله وده ..... 28
د کار بازار کې لومړني ګامونه ..... 29
د کار یا دندې جواز (Arbeitserlaubnis or Beschäftigungerlaubnis) ..... 30
د کار محدود جواز یا اجازه او د کار بندیز ..... 31
په بهر کې د لاسته راغلي تعلیم او مسلکي وړتیا د برابروالي ارزونه ..... 31
د مسلکي وړتیاو د اعتبار او منل کېدو په برخه کې مرستې ..... 32
د جرمني د کار ځایونو پر سیستم ځان پوهول ..... 33
مسلکي (دوه ګونې) روزنه ..... 34
د مسلکي روزنې په پیلولو یا ورته په چمتووالي کې مرسته ..... 35
زده کړې ..... 36
د دندو د اداري یا د دندو د مرکز له لورې د کار بازار ته معرفي کېدل ..... 37
هرکلي خدمتونو (Willkommensbegleitung او د دندې مثبت پل (Jobbrücke PLUS) له لورې د دندې په لټون کې مشورې او مرستې ..... 38
په زکسین–انالټ کې د سیمه ییز پروګرام مسلکي په فوکس یا دقت کې (Fachkraft im Fokus - FiF) د هرکلي خدمتونه ..... 38
د دندې مثبت پل (Jobbrücke PLUS) ..... 39
پر انلاین د دندو فرصتونو او وړاندیزونو موندل – د کار بازارونه ..... 39
د یوه کارکونکي په توګه ستاسو حقونه ..... 39
د کار او روزنې بازار ته لاسرسی، په لنډ ډول ..... 41

**شپږم فصل – روغتیایي پاملرنه او د ژوند په مشخصو حالتونو کې مرسته ..... 42**
روغتیایي پاملرنه ..... 42
د درملنې سند (Behandlungsschein) ..... 43
له ډاکټر سره خبرې او محاوره ..... 43
بېړني حالتونه – هغه مالومات چې د خپل شخصي خوندیتابه لپاره یې باید په یاد ولرئ .... 44
د اړوپوهنې او روحي تکلیفونو مرکزونه ..... 44
وړیا روغتیایي مرستې ..... 45
د هغو کسانو لپاره مرستې چې د اورېدو یا نظر ستونزې لري ..... 45
هغو ښځینه کډوالو لپاره مرستې چې میندواره دي ..... 45
د هغو ښځنیه کډوالو لپاره مشخصه ساتنه چې د تاوتریخوالي له ګواښ سره مخامخې دي ... 46
د جنسیت پر اساس د تبعیض پر وړاندې مرسته ..... 47



له تاوتریخوالي ډکو بریدونو وروسته مرسته ..... 47

**اووم فصل – د ماشومانو او ځوانانو لپاره ښوونځی او تعلیم ..... 48**
وړکتون (Kita) ..... 48
د کوچنیانو لپاره د ښوونځي اجباري زده کړې ..... 48
په زکسوني–انالټ کې د ښوونځیو سیستم ..... 49
ښوونځي کې د خپل ماشوم نوملیکنه ..... 50
د تعلیم او ګډون ګټې او منفعتونه ..... 50

**اتم فصل – په جرمني کې ژوند کول ..... 51**
دېموکراسي او بشري حقونه: زمور د ګډو ژوند اصلونه ..... 51
په جرمني کې د ورځني ژوند په اړه نور مالومات لاسته راوړل او ورځنی ژوند په ښه ډول پر مخ وړل ..... 53
په سیمه کې د ژمنتیا له لارې ګډ ژوند ته وده ورکول ..... 53
ټولنیز ژوند – له خلکو سره لیدل – وړتیاوې لاسته راوړل: ایالتي رضاکاره خدمتونه (Bundesfreiwilligendienst - BFD) ..... 54

**نهم فصل – قانوني موقف او د پناه غوښتنې طرزالعمل ..... 55**
د خوندیتابه یا ساتنې موقف او پایلې یې ..... 55
د پاتې کېدو جواز (Aufenthaltsgestattung) ..... 56
پخپله خوښه ستنېدل ..... 56
ورپسې یا متعاقب د کورنۍ مهاجرت (له کورنۍ سره بیا یوځای کېدل) ..... 57
د پناه غوښتنې او د کډوالو د خوندیتابه یا ساتنې په اړه نور مالومات ..... 57

**ټاکل شوي مهم ادرسونه او د مشورو مرکزونه ..... 58**

**مهر یا ټاپه ..... 62**

# لومړی فصل – عرضه، ګټې یا منفعتونه، مشورې

*وروسته له دې چې تاسو د زکسوني–انالټ یوې ښاروالۍ ته معرفي شئ نو په خپلواکه توګه یا په خپل مټ به د ژوند پر مخ وړلو ګڼ فرصتونه ولرئ. په ورځنۍ ډول د قانوني او منظم ژوند لپاره د ګټو، منفعتونو او عرضو په اړه پوهاوی مهم دی. په دې فصل کې به تاسو وموميئ چې د مشورو کوم مرکزونه له تاسو سره مرسته کولی شي.*

وروسته له دې چې تاسو د هرکلي له لومړني مرکزه ولاړ شئ، ځایي چارواکي مسولیت لري چې ستاسو لپاره ټولنیزې عامه ګټې او منفعتونه برابر کړي. ټولنیزې عامه ګټې او منفعتونه هغه امکانات دي چې ستاسو د ورځنۍ ژوند پر مخ وړلو او ټولنیز یوځای والي ډاډمنولو کې مرسته کوي.
ستاسو د موقف یا حالت پر اساس به مختلف چارواکي ستاسو مسولیت لري. لطفا لاندې لنډ مالومات وګورئ:

**هغه کسان چې له ۶۵ کلونو ډېر عمر لري یا د دندې او کار کولو وړتیا نه لري**
د ټولنیزو عامه ګټو دفتر (Sozialamt) (د خوندیتوب اساسي ګټې یا منفعتونه)

**منل شوي کډوال (چې د اوسېدو جواز لري – Aufenthaltserlaubnis)**
د کار یا دندې مرکز

**پناه غوښتونکي، زغمل شوي کډوال**
د ټولنیزو عامه ګټو دفتر (Sozialamt) (ټولنیزې عامه ګټې یا منفعتونه)

**که تاسو لا تر اوسه له ایالتي دفتره (BAMF) کومه پرېکړه لاسته نه ده راوړې او غواړئ د BAMF د پرېکړې د ممکنه پایلو په اړه پوهاوی ترلاسه کړئ، نو لطفا نهم فصل وګورئ.**

## د منل شویو کډوالو لپاره ټولنیزې عامه ګټې یا منفعتونه:

د یوه **منل شوي شخص په توګه چې د خوندیتوب او ساتنې حق لري** (که پناه غوښتونکی وي، د کډوالو لپاره د جنیوا ترون پر اساس کډوال وي یا د یوه داسې شخص په توګه چې د ضمني خوندیتوب یا ساتنې حق لري) او د یو په نامه **مشروط کډوال** په توګه، د پناه غوښتونکو د ګټو یا منفعتونو قانون (AsylbLG) پر تاسو د تطبیق وړ نه دی، خو دوهم ټولنیز قانون (Sozialgesetzbuch SGB II – د دندې لټونکو لپاره د خوندیتوب بنسټیزې ګټې یا منفعتونه چې د 'Hartz IV' په نامه هم یادېږي)، په دې شرط چې تاسو د دندې ترسره کولو وړتیا ولرئ یا له یوه داسې شخص سره یوځای و اوسېږئ چې هغه د دندې ترسره کولو وړتیا ولري.

د دندې لټونکو لپاره د خوندیتوب د بنسټیزو ګټو یا منفعتونو په اړه د خپلو پوښتنو لپاره لطفا د **دندو له ځایي مرکز** سره اړیکه ونیسئ.
د دندو مرکز تاسو سره په لاندې برخو کې مرسته کوي:
- د کار بازار سره بلدتیا یا معرفي کېدل (د دندې یا روزنې فرصت برابرول)
- د ژوندانه د امکاناتو برابرول
- د ماشومانو ساتنه، د پورونو په اړه مشوره، د رویدتیا په اړه مشورې او ټولنیزه ساتنه
- د BAMF د ټولنې سره د بلدېدو او یوځای کېدو کورسونو کې د ګډون امکانات

د سچسین–انالټ په خپله سیمه کې د دندو مرکزونو موندلو لپاره دا لینک وګورئ .





**مشوره:** د مثال په ډول د مګډیبرګ د ټولنیزو ګټو او استوګنې دفتر د SGB II ګټو او منفعتونو لومړني غوښتنلیک ډکولو کې مرسته کوي او مشورې ورکوي. په خپله ښاروالۍ کې مرسته وغواړئ.

که تاسو د دندې ترسره کولو وړتیا نه لرئ او له داسې چا سره ژوند هم نه کوئ چې هغه د دندې کولو وړتیا ولري، نو تاسو ښایي د SGB XII د ګټو او منفعتونو لاسته راوړلو حق ولرئ. که لازمه وي، د ټولنیزو ګټو له ځایي مرکز سره اړیکه ونیسئ.

## د پناه غوښتونکو، زغمل شویو کډوالو او هغو کسانو لپاره ټولنیزې عامه ګټې او منفعتونه چې اړ دي هېواد خوښ کړي

په زکسوني–انالټ او ایالتي سیمو کې، پناه غوښتونکو، زغمل شویو کډوالو او هغو کسانو ته چې د هېواد خوښې کولو ته اړ دي، د ټولنیزې عامه ګټې یا منفعتونه د **پناه غوښتونکو د ګټو قانون** (Asylbewerberleistungsgesetz - AsylbLG) پر اساس برابرېږي. د دغه قانون پر بنسټ، تاسو به **په لومړیو ۱۵ میاشتو کې** بنسټیز تقاعد لاسته راوړئ، که په ایالتي سیمو کې اوسېږئ او د **اوسېدو جواز** ولرئ (Aufenthaltgestattung) **یا د تبعید ملي بندیز** (Duldung).

**دغه ګټې او منفعتونه د غیر نقدي ګټو له اصل سره تړلي: دا په دې معنا چې په عمده ډول نقدي ګټې ورکول کېږي. خو دغه ګټې هر وخت د اجناسو د پېرلو د بلونو په توګه هم ورکول کېدای شي.**

د پناه غوښتونکو په استوګنځي یا اپارتمان کې د استوګنې ترځنګ، تاسو به د تغذیې یا خوړو، جامو او شخصي ساتنې لپاره بنسټیزې ګټې هم لاسته راوړئ. په AsylbLG کې لاندې ګټې شاملې دي:
- غیرنقدي ګټې (استوګنځی، د کور ګومولو امکانات، د کور وسایل)
- نقدي ګټې (د خوړو، جامو، تګ راتګ، روغتیا او بدن ساتلو یا پاملرنې لپاره)
- روغتیایي خدمتونه (د ناروغیو درملنې، میندوارۍ او د ماشوم زېږېدلو لپاره)



## د ځوانو کډوالو او د هغوی د میندو او پلرونو لپاره مشورې

**د ځوانانو د عامه ګټو دفتر** (Jugendamt) له کوچنیو او ځوانو کډوالو او د هغوی له کورنیو سره بشپړې او هر اړخیزې مرستې کوي. دلته به تاسو، د میندو او پلرونو په توګه، د ماشومانو ساتنې، د میندو او پلرونو رول او ګډون او د مرستو د غوښتنې په خبر موضوعاتو په اړه مشورې او مالومات لاسته راوړئ. د زکسوني–انالټ په ښاري ولسوالیو او کاونټیو کې د ځوانانو د عامه ګټو دفترونه شته. د خپل ځایي ځوانانو عامه ګټو دفتر د اړیکو شمېرې او تفصیل له دې ځایه وموم.




**د ځوانانو د مهاجرت خدمتونو** اداره (Jugendmigrationsdienste) د هغو کسانو لپاره د مشورو وړاندیزونه لري چې د مهاجرت یا تښتې قضیې ولري. د خدمتونو دغه اداره د ۱۲ او ۲۷ کلونو ترمنځ نویو مهاجرو شویو ځوانانو ته مشورې او مرستې رسوي. د دوی موخه دا ده چې په ټولنه کې د دغو ځوانانو په ښه ډول یوځای کېدو کې مرسته وکړي.

د زکسوني–انالټ په ډېرو ښارونو کې د ځوانانو د مهاجرت خدمتونو استازي او دفترونه شته. ګټې اداري دغه خدمتونه وړاندې کوي. خدمتونه یې په لاندې ډول دي:
- ټولنه کې په ښه ډول د یوځای کېدو لپاره مرستې او نورو خدمتونو ته معرفي کول
- په تعلیمي، مسلکي او نورو مسلو او حساسو حالتونو کې شخصي مشورې
- هغو میندو او پلرونو لپاره مشورې چې ماشومان یا ځوانان یې د مهاجرت قضیې ولري
- له ځایي ځوانانو سره ګډوډي یا ډله ییز وړاندیزونه

◀ تاسو د ځوانانو د مهاجرت د ځایي خدمتونو ادرسونه له دې ځایه لاسته راوړلی شئ.





د AsylbLG پر اساس د ګټو او منفعتونو اندازه یا کچه ستاسو د عمر، په ښارواليِ کې له ځای پر ځای کېدو وروسته ستاسو د کورنۍ حالت (د مثال په ډول چې له میندې او پلارې یو درسره دي که دواړه) او د استوګنځي ډول (اپارتمان یا ټولنیز استوګنځی) په نظر کې نیولو سره ټاکل کیږي.

د ټولنیزو عامه ګټو په اړه د ټولو پوښتنو لپاره لطفا د **ټولنیزو عامو ګټو له ځایي دفتر** (Sozialamt) سره اړیکه ونیسئ.

د ټولنیزو عامه ګټو دفتر سره اړیکه هغه مهال ونیسئ، چې د مثال په ډول تاسو لاندې امکاناتو ته ضرورت ولرئ:
- د ورځنۍ ژوند یا استوګنځي ګټې او منفعتونه یا
- ټولنیزې مرستې او مشورې.

◀ په زکسوني–انالټ کې تاسو د ټولنیزو عامه ګټو د ځایي دفترونو په اړه مالومات له دې ځایه لاسته راوړلی شئ.

**مشوره:** تاسو کولی شئ د مشورو له ځایي دفترونو (Migrationsberatungsstellen) سره مشوره وکړئ او د ټولنیزو عامه ګټو د لاسته راوړلو د غوښتنلیک فورمو ډکولو کې مرسته لاسته راوړئ.

## د ځایي مشورو وړاندیزونه

د کډوالو او هغو لپاره چې د مهاجرت قضیې لري، د زکسوني–انالټ په ډېرو سیمو کې د ځانګړو مشورو امکانات او نور خدمتونه شته.

په زکسوني–انالټ او د ایالتي سیمو په ټولو برخو کې د اړیکو او مشورو د ټولو مهمو مرکزونو مالومات د ایالتي دفتر له مالوماتي سیستمه (BAMF) لاسته راوړلی شئ. د خپلې سیمې له یوې نقشې نوره لارښونه لاسته راوړئ. د لټون په برخه کې خپل موقعیت ولیکئ (د پوستي کوډ پر اساس) چې ورسره به تاسو په ټولنه کې په ښه ډول د یو ځای کېدو په اړه په خپله سیمه کې د ټولو مهمو امکاناتو او اسانتیاوو یو لست لاسته راوړئ.

## د بې سرپرستو ټیټ عمر کډوالو (UMA) لپاره مرستې

هغه ماشومان چې زکسوني–انالټ ته له میندو او پلرونو یا کورنۍ پرته راځي او لا قانوني عمر ته نه وي رسېدلي، دوی د ځوانانو عامه ګټو خدمتونه په نظر کې نیول کیږي. که له کورنۍ سره ښه یوځای کېدل یې ممکن نه وي، نو بې سرپرستو ماشومانو ته به د ماشومانو او ځوانانو د خدمتونو په یوه اداره کې یا رضاعي کورنۍ کې ځای ورکړل شي. لګښت یې ښارواليِ یا حکومت ورکوي. د بې سرپرستو ماشومانو د مرستو لپاره د ځوانانو د عامه ګټو دفتر د اړیکې لومړی مرکز دی.

د ساتنې ټولنه refugium e.V. د بې سرپرستو ماشومانو د ساتنې مسولیت لري او په دې اړه د اړیکو او مالوماتو لپاره حاضر دي.

## د ځوانو مهاجرینو لپاره مشورې

**د ځوانانو لپاره د مهاجرت د مشورو دفترونه** د بشپړ عمر مهاجریانو او کډوالو سره مرسته کوي چې په جرمني کې خپل لومړي قدمونه کېږدي او بلد شي. دلته یې د مرستو څو مثالونه په ګوته شوي:

- د چارواکو او دفترونو لپاره د فورمو د ډکولو په اړه مالومات
- چارواکو سره د لیدو پر مهال ملتیا او مرسته
- د دندو د امکاناتو او د تعلیمي ګامونو یا اقدامونو په اړه مالومات
- په ټولنه کې په ښه ډول د یوځای کېدو په اړه مالومات
- د ژباړې یا ترجمې خدمتونه
- د کور په پیدا کولو کې مرسته

د ځوانانو لپاره د مهاجرت د مشورو دفترونه د زکسوني–انالټ په ټولو سیمو کې شتون لري. د مهاجرت د مشورو د خپل ځایي مرکز ادرس له دې ځایه وموميئ.

د کډوالو په توګه، تاسو د ځانګړو وړاندیزونو د **اضافي مشورو او مرستو څخه** په ټولو کاونټیو او ښاري ولسوالیو کې ګټه پورته کولی شئ. د مشورو په دغو مرکزونو کې، تاسو کولی شئ د پناه غوښتنې، استوګنې او ګټو یا منفعتونو په څېر مسلو په اړه بشپړې شخصي مرستې او مشورې لاسته راوړئ.

په زکسوني–انالټ کې د اضافي مشورو او مرستو په اړه د اړوندو اشخاصو لست او ادرسونو لپاره دا لینک وګورئ .

د پناه غوښتنې د طرزالعمل یا بهیر، ستاسو د قانوني موقف یا د زکسوني–انالټ په ایالتي سیمو کې ستاسو د پاتې کېدو په اړه د پوښتنو د اړیکې لومړنی نقطه یا ځای د **بهرنیانو د ثبت دفتر** (Ausländerbehörde) دی. په دې دفتر کې، تاسو د لاندې مسلو په اړه مالومات لاسته راوړلی شئ:

- قانوني موقف
- په اجباري ډول د تلو په صورت کې د پاسپورټ پرځای نور کاږدونکي اسناد
- د تلو او ستنېدو د چارو تنظیمول او بشپړول

د بهرنیانو د ثبت او راجستر د اړوند دفتر د اړیکې شمېرې ستاسو د اوسني استوګنځي پر اساس تعینېږي. په زکسوني–انالټ کې د بهرنیانو د ثبت دفترونه په دیساو–روبلاو، مګډیبرګ او هال او دغه راز په کاونټیو کې شته.





**لطفا خبر واوسئ چې د مالوماتو د محرم ساتلو په موخه د پناه غوښتنې بشپړې مشورې پر تیلیفون نه ورکول کېږي.**

په زکسوني–انالټ کې د بهرنیانو د ثبت دفترونو په اړه مالومات له دې ځایه وموميئ.

## په محاروو او خبرو اترو کې مرسته

که تاسو په جرمن ژبه هېڅ نه پوهېږئ یا ډېر کم پوهېږئ، خو غواړئ چې خپله یوه مهمه غوښتنه وژباړئ، کولی شئ د ژباړې یا ترجمې تیلیفوني خدمتونه وکاروئ (Sprachmittlung in Sachsen-Anhalt - SiSA) چې د زکسوني–انالټ په ټولو سیمو کې د کډوالو ادارو د سیمه ییزې شبکې (LAMSA) له خوا تنظیمېږي.

د ژبو د خدمتونو رضاکاره خدمت SiSA له تاسو سره مرسته کوي چې د خپل قانوني موقف سربېره د خپلو ښېلا ښېلو اندېښنو په اړه وغږېږئ، د مثال په ډول د بهرنیانو د ثبت له دفتر یا د ټولنیزو عامه ګټو له دفتر سره خبرې. SiSA تاسو ته د ژباړونکو امکانات هم برابروي چې په رسمي کارونو کې ستاسو ملتیا وکړي.

تاسو کولی شئ د ژباړې د تیلیفوني خدمتونو څخه له دوشنبې تر جمعې په دې شمېره +۴۹ ۳۴۵ ۲۱۳۸۹۳۹۹ ګټه پورته کړئ.

**تاسو کولی شئ د هغو ټولو مسلو په اړه چې باید ترې خبر و اوسئ، مالومات لکه ایالتي سیمو او ښاروالۍ ته د رسېدو وخت د BAMF اپ „BAMF“ (Ankommen) څخه لاسته راوړئ. دغه اپ په جرمني کې د ژوند په اړه پوهاوی درکوي او د ورځنۍ ژوند د لومړیو ګامونو په ټراو د هرې مسلې په اړه توضیحات او مالومات لري.**

## د پیسو د لېږد خدمتونه

د پیسو د لېږد خدمتونه پیسې په چټک ډول لېږدوي. خو ښایي لګښت یې ډېر وي. **تل د مختلفو بانکونو یا ادارو** د پیسو د لېږد لګښتونه سره پرتله یا مقایسه کوئ. په زکسوني_انالټ کې، د پیسو د لېږد خدمتونه تر ډېره د Deutsche Postbank، Money Gram، Western Union یا د ریل په تمځي کې Reisebank AG له خوا وړاندې کیږي.

◀ دا چې کډوال باید د پیسو د لېږد خدمتونو په اړه کومې خبرې په پام کې ونیسي، مالومات یې له دې ځایه لاسته راوړئ .

## ارزانه خواړه

په زکسونی_انالټ کې، لکه په ټوله ایالتي سیمه کې، **د خوړو بانکونه** (Tafeln) د کډوالو په ګډون، په ټولنیز او اقتصادي ډول بې وزلو خلکو ته خواړه توزیع کوي. په یوې مشخصې نېټې په وړیا ډول یا په ټیټه بیه د خوړو لاسته راوړلو لپاره، تاسو باید نوملیکنه وکړئ او د خپلې اړتیا یا ضرورت د اثباتولو لپاره باید یو رسمي سند ("Hartz IV") ولرئ. دا په عمومي ډول په دوو اوونیو کې ممکن دی.

د خوړو بانکونه د زکسوني_انالټ په ډېرو سیمو کې د خوړو د وېش دفترونه لري. د خوړو ځینې بانکونه چمتو شوي خواړه هم وړاندې کوي.

◀ تاسو په زکسوني_انالټ کې د خوړو خپل ځایي بانک له دې ځایه موندلی شئ.

## ارزانه جامې

په ځینو مشخصو حالتونو کې، واحدې ګټې او منفعتونه، لکه ستاسو د اپارتمان سمبالول، ښایي د ښاروالۍ له لورې ترسره شي. د ښارونو او ښارګوټو په ډېرو برخو کې ارزانه یا وړیا جامې پلورل کیږي. د جامو د مینځلو او وچولو یا د کور وسایل هم په دغه ترتیب پېرلی شئ. پوښتنه وکړئ چې د جامو دوکان (Kleiderkammer)، د مستعملو شیانو دوکان، د سره صلیب دوکان (Rot-Kreuz-Laden)، د پېر او پلور دوکان (An- und Verkauf) یا وړیا دوکان (Umsonstladen) چېرته موقعیت لري.

## د کور ارزانه وسایل

کډوال د خپلو اپارتمانونو لپاره جامې، فرنیچر (میز او څوکۍ وغیره) او فرشونه (د کور وسایل) یا په ډېره ټیټه بیه او یا هم په وړیا ډول د سره صلیب د جامو له ځایي دوکانونو (Kleiderkammer des örtlichen Roten Kreuzes-DRK)، د مستعملو وسایلو دوکانونو، له ټولنیزو دوکانونو (Sozialkaufhaus) ، یا له ښاري ماموریتونو (Stadtmission) لاسته راوړلی شي.





## د ژوند حالت جوړول او ورځنی ژوند تنظیمول

*یوې ښاروالۍ ته له رسېدو وروسته تاسو ښایي ناڅاپه په یو وخت ډېرو ننګونو سره مخامخ شئ. دا به ښه وي چې ورو ورو او په نوبت ټولو ننګونو ته ځواب ووایئ او ځان ښه پوه کړئ چې بهتره لاره یې کومه ده.*

*په دې فصل کې، هغه مهم کارونه چې تاسو یې باید د خپل ژوند په نوي چاپېریال کې ترسره کړئ د (لستونو) په ډول خلاصه شوي دي. که ستونزې یا مشکل ولرئ، مشخص پروګرامونه او خلک به له تاسو سره مرسته وکړي. تاسو به په دې فصل کې دا هم وموميٰ چې څوک مو چېرته او څنګه مرسته کولی شي.*




## د یوه بنسټیز بانکي حساب پرانیستل (Basiskonto)

تاسو کولی شئ په یوه بانک کې د خپل بانکي حساب له لارې په ټول هېواد کې پیسې ولېږئ، له بانکه پیسې واخلئ یا د کارت له لارې د لګښت پیسې ورکړئ. له ۲۰۱۶م کال راهیسې، پناه غوښتونکي او زغمل شوي کډوال په قانوني ډول حق لري چې په ټوله ایالتي سیمه **کې بنسټیز بانکي حساب** (Basiskonto) ولري.

تاسو کولی شئ د ایالتي سیمې د ټولو برخو په هر بانک کې یو بنسټیز بانکي حساب پرانیزئ. د دې کار لپاره، تاسو باید هغه بانک ته چې غواړئ حساب په کې پرانیزئ یو لیکلی غوښتنلیک وسپارئ. د بنسټیز بانکي حساب پرانیستلو لپاره تاسو باید قانوني عمر بشپړ کړی وي، د یوه پناه غوښتونکي یا منل شوي کډوال په توګه ثبت شوي واوسئ یا د خپل هویت اسناد ولرئ. د کډوالو بنسټیز بانکي حساب پرانیستلو لپاره تاسو باید پیسې ولرئ چې بانک ته یې وسپارئ. تاسو یوازې اوسنۍ شته پیسې کارولی شئ. بنسټیز بانکي حساب کې د پور یا قرض اخیستلو او له خپل حسابه له شته پیسو د زیاتو پیسو ایستلو امکانات نشته.

**تاسو د بنسټیز بانکي حساب په اړه نور مالومات له دې سنده موندلی شئ. په بعضې مشخصو حالتونو کې ستاسو د بنسټیز بانکي حساب غوښتنلیک شاید رد شي. په دې اړه نور مالومات د Bundesanstalt BaFin له لینکه لاسته راوړئ.**

## د سړک په ترافیکو کې مناسبه رویه

په جرمني کې د سړکونو د کارونکو په توګه، تاسو باید ځانونه د ترافیکو له قوانینو او رویې سره اشنا کړئ، وړاندې له دې چې د سړک له ترافیکه کار واخلئ، د مثال په ډول د یوه سایکل چلونکي په توګه. په جرمني کې د سړک ترافیک هغه مهال په ښه ډول کار کوي چې د خلکو له خوا **له احتیاطه او مقابل احترام** څخه کار واخیستل شي.
په جرمني کې د سړک ترافیک د خوندیتابه کورس چې په کټو ژبو چمتو شوی، له دې ځایه موندلی شئ.

د جرمني د ګاډو عمومي ټولنه (ADAC) د سړک ترافیکو په اړه مهمو قوانینو او مسولیتونو په اړه مالومات وړاندې کوي چې د کډوالو لپاره یوه ځانګړې مجله لري: پر سړک ځان په اسانۍ سره خوندي کول (Einfach sicherer unterwegs).

## د لامبو عامه حوضونو او د لامبا اوبو څخه ګټه اخیستنه

تل یوازې هغو ځایونو کې ولامبئ چې لامبا ته په کې اجازه ورکړل شوې وي. که غواړئ د لامبا یوه عمومي حوض ته ولاړ شئ یا په یوه جهیل کې له اوبو کار واخلئ، نو باید لامبا مو زده وي. د جرمني د ژوند ژغورنې ټولنه (DLRG) د لامبا کورسونه لري. دلته یې مالومات وګورئ، کوم شئ د ځایي ډلې (Ortsgruppe der DLRG) DLRG د لامبا راتلونکي ټولګي یا روزنیز کورس دلته مومئ.
د لامبا په عمومي حوضونو او د لامبا په عمومي ځایونو کې د لامبا اصلونه په پام کې ونیسئ، دغه اصلونه په زکسوني–انالټ او ټول هېواد کې پر هر چا د تطبیق وړ دي. تاسو کولی شئ د جرمني د لامبا چارو ټولنې (Deutsche Gesellschaft für Badewesen) د لامبا اصلونه (Baderegeln) په دې لینک کې ولولئ.





## د موبایل تیلیفون قراردادونه

د موبایل تیلیفون قراردادونه ډېر ژر لوی لګښت لرلی شي. په بیړه قرارداد مه امضا کوئ ځکه ډېر کله مو بیا اړ باسي چې ګڼ کلني پروګرامونه او لګښتونو ومنئ.
یوازې پر هغه څه لاسلیک یا امضا وکړئ چې ښه پرې پوهیږئ. که غواړئ د موبایل تیلیفون قرارداد امضا کړئ، غوره ده چې داسې یو کس له ځانه سره ولرئ چې په جرمن ژبه ښه پوهیږي.
دا چې کله باید د موبایل تیلیفون د قرارداد په فکر کې شئ، مالومات یې دې ځایه لاسته راوړئ.

## انټرنټ ته لاسرسی

د زکسوني–انالټ په ډېرو ښارونو او ښارګوټو کې، د انټرنټ عمومي لاسرسی (هاټ سپاټ) یا انټرنټ ته له نورو لارو لاسرسی ممکن دی، د مثال په ډول، د غونډو په ځایونو کې (Kennenlerntreff)، د انټرنټ په کلبونو کې، د ښار په کتابتونونو کې یا د ریل په تمځایونو کې. په زکسوني–انالټ کې، د „Freifunk“ ځایي انټرنټ ته د لاسرسي پروګرام وړاندیز د کارولو امکانات محدود دي. دغه خدمت په چټک ډول د یوې بېسیمه انټرنیټي شبکې جوړولو کې مرسته کوي. د Freifunk تر ټولو نږدې ټولنې موندلو لپاره د دغو خدمتونو وړاندې ګڼکي اداري Freifunk وېبپاڼه وګورئ.
د انټرنټ او تیلیفون د ټرونونو یا قراردادونو په اړه د نورو مالوماتو لپاره، په انګریزي ژبه د پېرېدونکو د مشورو مرکز (Verbraucherzentrale) مالوماتي پاڼه ولولئ.

## د عامه ترانسپورت په وسیله سفر کول – د بس او ریل کارول

د عامه ترانسپورت کارول لکه بس یا ریل د **فیس پر اساس** دی. د ټولو مسافرو لپاره دغه قوانین د تطبیق وړ دي: له سفر وړاندې تاسو باید یو ټکټ وپېرئ. هر هغه څوک چې په بس یا ریل کې د اعتبار وړ ټکټ و نه لري باید د ترانسپورت اضافي لګښت یا جریمه ورکړي. چارواکي دغه سرغړونه د جرم په توګه ثبتوي.

په ځینو مشخصو حالتونو کې، کډوال کولی شي د ټولنیزو عامه ګټو په دفتر یا د دندې په مرکز کې د ټکټ د ټیټې بیې (Sozialticket) غوښتنه وکړي. دغه اړتیا یا ضرورت باید د یوې رسمي فورمې (Bescheid) په ډکولو تثبیت شي.

## له نورو سره لیدل او خپله ټولنه موندل

کله چې نوي چاپیریال ته راځئ، نو له نورو سره لیدل د ښه ګاونډیتوب پیل ګڼل کیږي. نه یوازې په زکسوني–انالټ کې، بلکې په سترو ښارونو کې هم داسې فرصتونه شته چې له لارې یې د خپل هوساد له خلکو سره ووینئ یا له ګاونډیانو سره په اړیکه کې شئ، د مثال په ډول له لاندې لارو:

- د کلتوري ټولنو او کډوالو ادارو په غونډو او پروګرامونو کې
- له ماشومانو او میندو او پلرونو سره په فعالیتونو او کارونو کې (د لوبو د میدانونو په غونډو کې، ځوړنې کار کې، د موسیقۍ مرکزونه کې، د لامبا ځورسونه کې، لاسي صنایعو ټولنو کې، ښادیانانو یا خوشالیو کې، د نڅا ټولګیو کې، وغیره)
- د پخلي، زده کړې، د سایکل جوړونې وغیره شوقي ډلو کې
- د لیدلو کتلو کلبونه او د ژبو د زده کړې کلبونو کې
- (د مثال په ډول په هال کې د هرکلي کلب (Welcome Treff)، مګډیبرګ einewelt haus کې د ژبې کافې، په ډیساو کې د ګټو کلتورونو مرکز (Multikulturelles Zentrum)).
- په ګاونډ کې غونډې او په ټولنیزو او د کلیساګانو په ادارو یا په ګڼ نسله ځایونو کې (Mehrgenerationenhäusern).
- د سپورت او لوبو کلبونو کې (لکه د پرانیستو لوبو د کلبونو وړاندیزونه (Verein) او د Kreissportbund وړاندیزونه.

**تاسو د مګډیبرګ او هال په ښارونو کې د لیدلو کتلو د امکاناتو او ځایې وړاندیزونو نور مالومات له ځایې وېبپاڼو لاسته راوړلی شئ . تاسو کولی شئ د کډوالو له ادارو سره په زکسوني–انالټ کې د کډوالو د سیمه ییزې شبکې د (LAMSA eV) ادارو له لارې اړیکه ونیسئ.**

◀ په ایالتي رضاکاره خدمتونو کې د رضاکارۍ په اړه د نورو مالوماتو لپاره لطفا اتم فصل وګورئ.

## بیمه – د کډوالو مسولیت

د جرمني د قوانینو پر بنسټ، تاسو باید نورو ته له خپلې خوا اوښتی هر تاوان جبران کړئ. که د مثال په ډول، تاسو د تفریح یا لوبو پر مهال د یوه بل کس د ټکر یا ژوبلېدو لامل کیږئ، نو تاسو یې له خپلو پیسو یا شتمنۍ د بشپړ تاوان ورکولو مسولیت لرئ.
ځکه نو تاسو ته په جرمني کې د شخصي مسولیت بیمې لاسته راوړلو سپارښتنه کیږي. د تاوان په صورت کې، دغه بیمه تاسو د سترو خطرونو او ګواښونو پر وړاندې خوندي کوي.

◀ په اړه یې نور مالومات دلته موندلی شئ.

## د استوګنې د مخې په دروازه کې قراردادونه او سوداګري

که کوم کس ستاسو د استوګنې د مخې په دروازه کې غواړي له تاسو سره سوداګري یا کاروبار وکړي، لطفا لاندې لارښونې په پام کې ونیسئ یا د خپل خوندیتابه لپاره لاندې قوانین په نظر کې ونیسئ:

- له ناپېژندل شویو یا نا معرفي شویو کسانو څخه وغواړئ چې خپل د پېژندګلوی یا هویت کارت در ښکاره کړي (یا اپارتمان ته د ننوتلو جواز ښکاره کړي).
- تر هغو چې کار بشپړ شوی نه وي پیسې مه ورکوئ.
- پر هغه څه لاسلیک مه کوئ چې تاسو پرې نه پوهیږئ یا تاسو یې په اړه ډاډه نه یاست.

◀ د قانوني حالت په اړه نور مالومات له دې ځایه لاسته راوړئ.

## په ښېرنیو حالتونو کې لازم ګامونه یا اقدامونه

که تاسو یا نور خلک څه اړتیا او ضرورت لرئ یا په خطر کې یاست، لطفا سملاسي د ټول هېواد په کچه د لاندې وړیا شمېرو له لارې له ښېرنیو خدمتونو سره اړیکه ونیسئ.
که تاسو د لاندې پښښو قرباني شوي یاست یا تاسو بل څوک په لاندې حالتونو کې **وګورئ نو ښېرنۍ شمېرې ۱۱۰** ته زنګ ووهئ:

- ټکر ● له تاوتریخوالي ډکې شخړې یا جګړه ● غلا او برید یا ● جنسي ځورونه

که تاسو د لاندې پښښو قرباني شوي یاست یا تاسو بل څوک په لاندې حالتونو کې **وګورئ نو ښېرنۍ شمېرې ۱۱۲** ته زنګ ووهئ:

- ژوند ګواښونکي خطرناکه حالتونه (د مثال په ډول اور) او
- روغتیایي ښېرنې حالتونه

**ښېرنۍ شمېرې ۱۱۰ او ۱۱۲ یوازې د ژوند ګواښونکو ښېرنیو حالتونو لپاره دي! دغو شمېرو ته یوازې هغه مهال زنګ ووهئ چې حالت واقعا ژوند ګواښونکی او ښېرنی وي. په روغتونونو کې ښېرنی یا عاجله خونه هم یوازې د روغتیایي ښېرنیو حالتونو لپاره جوړه شوې ده.**

په زکسوني–انالټ کې به تاسو ته د یوه **مجرد یا واحد پناه غوښتونکي** په توګه، په عمده ډول په **ګډو یا مشترکو اپارتمانونو** کې د اوسېدو ځای درکړل شي.
**کورنۍ** تر هغه بریده چې ممکنه ده په جلا استوګنځایونو کې ځای پر ځای کېږي.
په اپارتمان کې د استوګنې په صورت کې به د ټولنیزې پاملرنې یو شخص ستاسو مرستې ته چمتو وي.

## یو اپارتمان په کرایه نیول

په ځانګړې ډول او په بریالي توګه له منل کېدو وروسته، تاسو په خپلواکه ډول پخپله کولی شئ یو اپارتمان په کرایه ونیسئ. خپل اپارتمان کې د اوسېدو لپاره، تاسو باید د اجارې (Mietvertrag) یو سند لاسلیک کړئ، د مثال په ډول د ښاروالۍ د کورونو او معاملاتو له یوه شرکت سره. تاسو په یوه ګډ یا مشترک اپارتمان (Wohngemeinschaft - WG) کې هم یوه خونه په کرایه نیولی شئ، د مثال په ډول له زده کونکو – یا له نورو شخصي کرایه ورکونکو څخه. په زکسوني–انالټ کې د مناسبو خونو یا اطاقونو د پیدا کولو پر مهال، د کډوالو لپاره د کورونو اداره (Wohnungsbörse für Geflüchtete) یا په ټول هېواد کې د کډوالو لپاره د استوګنځي وېبپاڼه (Unterkunftsportal für Geflüchtete) له تاسو سره مرسته کوي.

**کله چې تاسو پلان لرئ چې یو اپارتمان په کرایه ونیسئ نو د ټولنیزو عامه ګټو دفترونه او د کورونو د معاملو دفترونه له لومړیو هغو ادارو څخه دي چې تاسو باید ورسره اړیکه ونیسئ. که په جرمن ژبه ښه پوهېږئ، نو دا هم کولی شئ چې په مستقیم ډول د کورونو له ټولنو یا د ښار له ځایي ادارې سره اړیکه ونیسئ.**

کله چې تاسو هغه اپارتمان ته ځئ چې کرایه کړی مو دی او کله چې یوه شخصي اجاره لاسلیکوئ، نو باید د **استوګنځي بیو او اندازې یا لوی والي** ته پام وکړئ.





*کله چې تاسو د منل شوي کډوال موقف لاسته راوړ، نو ایالتي اداره نور ستاسو د استوګنې مسولیت نه لري. تاسو باید په ښاروالیو کې د یو اپارتمان په لټه کې شئ او یا به تاسو ته په یوه ټولنیز استوګنځي کې ځای درکړل شي (Gemeinschaftsunterkunft - GU). په یوه کرایه شوي کور کې د اوسېدونکي په توګه د اوسېدو په اړه د ټولو پوښتنو لپاره، ستاسو قانوني موقف (د استوګنې موقف) مهم دی.*
*دا چې یوه اپارتمان ته د تلو او په یوه کرایه شوي اپارتمان کې د اوسېدونکي په توګه تاسو باید کوم مسلو ته پام وکړئ، تفصیل یې په دې فصل کې موندلی شئ.*

## د اوسېدو اړتیاوې (Wohnsitzverpflichtung)

د ۲۰۱۶ کال له ټولنې سره په ښه ډول د یوځای کېدو قانون له پلي کېدو سره، هغه اشخاص چې د اوسېدو یا استوګنځي جواز لري (Aufenthaltserlaubnis) د استوګنځي قانون د ۲۵مې برخې د دریمې مادې (AufenthG) پر اساس نه شي کولی چې نور پخپله تصمیم ونیسي چې جرمني کې به چېرته اوسېږي (Wohnsitzauflage).
د نویو قوانینو پر اساس، د استوګنځي د جواز له لاسته راوړلو وروسته په لومړیو دریو کلونو کې تاسو باید په هغه ایالتي سیمه کې پاتې شئ چې د پناه غوښتنې طرزالعمل او بهیر پر مهال تاسو ته په نظر کې نیول شوی و. که تاسو د ۲۰۱۶م کال د اګست له شپږمې مخکې کومې بلې ایالتي سیمې ته تللي یاست، تاسو کولی شئ هلته پاتې شئ او باید هلته پاتې شئ.
که تاسو د دندې په لټه کې یاست یا دنده کوئ نو د استوګنځي اړتیاوې پر تاسو د پلي کېدو وړ نه دي په دې شرط چې لږترلږه په اوونۍ کې ۱۵ ساعتونو لپاره ټولنیزه بیمه ولرئ او لږترلږه ۷۱۰ یورو معاش ولرئ، او مسلکي روزنې یا زده کړې مو ترسره کړې وي. د سختۍ او ستونزمنې قضیې لکه په ځانګړې ډول زیانمنېدونکي ډلې (د مثال په ډول ماشومان او ځوانان، هغه اشخاص چې معلولیت لري) د استوګنې له اړتیاو معاف دي.
د دې ترڅنګ، په زکسوني–انالټ کې د ۲۰۱۷م کال له پیله وراخوا د استوګنځي د ورکولو یو نوی قانون په پلان کې دی. د دغه قانون پر اساس، تاسو باید په مشخصو کاونټیو یا د زکسوني–انالټ په ښاري ولسوالیو کې ژوند وکړئ.

## استوګنځی

زکسوني–انالټ په اپارتمانونو کې کډوالو په نامه **غیر مرکزي استوګنځیونو** (dezentrale Unterbringung) برابرولو هڅه کوي. خو د استوګنځي او کورونو ځایي سیستم په هېڅ حالت کې یا ستاسو له رسېدو سملاسي وروسته په اپارتمان کې د استوګنځي اجازه نه ورکوي. بیا نو **ټولنیز او ګډ استوګنځي** (Gemeinschaftsunterkünfte - GU) موجود وي چې کار تري واخیستل شي. په ګډو استوګنځیو کې، ستاسو د اندېښنو لپاره په اصولي ډول د پاملرنې یوه ټولنیزه خانګه او د اړیکو لپاره یو شخص ټاکل شوی دی.
ستاسو د هرکلي په لومړي مرکز کې، په عمومي ډول تاسو یوه ګډ یا ټولنیز استوګنځي (GU) ته لیږل کېږئ تر هغو چې ستاسو د **پناه غوښتنې پر غوښتنلیک غور کېږي**.

## د ښه ګاونډیتوب ډاډمنول

ټول ګاونډیان اړ دي چې د شپې له لسو بجو د سهار تر شپږو بجو د قانوني استراحت او ویده کېدو موده په پام کې ونیسي. ډېر کله به تاسو د کور د کرایې یا اجارې سند تر څنګ، د کور قوانین (Hausordnung) په نامه سند هم لاسته راوړئ. دغه قوانین په ښه ډول د ګډ ژوند اصلونه په ګوته کوي. په دغو قوانینو کې شاید د ګډو او مشترکو سیمو د دوامداره پاکاریِ او نظافت کار شامل وي. په ګاونډ کې له یو بل سره روغبړ او سلام کول د ښه ګاونډیتوب ډاډمنولو کې مرسته کوي.








د یوه اصل په توګه، د یوه مشخص لوی والي او له ټولنیز پلوه مناسب اپارتمانونو ته تاسو لاسرسی لرئ. د اجارې په سند کې د کرایې تر څنګ، او د **عملیاتي یا ورځني لګښتونو** (Betriebskosten) په ګډون **اضافي مصارف** (Nebenkosten) هم لیکل شوي وي. په اضافي مصارفو کې د اوبو، د کور ګرمولو، د کور پاکولو او د کثافاتو لرې کولو لګښتونه شامل دي. د دې تر څنګ، تاسو باید د برېښنا او انټرنټ یا نورو کیبلونو د لګښت پیسې ورکړئ، او د دغو اسانتیاوو لپاره باید له اړوندو ادارو یا شرکتونو سره قراردادونه لاسلیک کړئ.

د اجارې یا کرایې سند له لاسلیکولو وړاندې باید تاسو د خپل اپارتمان د ټولیزو لګښتونو په اړه مالومات لاسته راوړئ. که غواړئ خپله یو اپارتمان په کرایه ونیسئ، لطفا د ټولنیزو عامه ګټو له ځایي دفترونو یا د اضافي مشورو او مرستو له دفترونو سره اړیکه ونیسئ.

کله چې نوي ځای ته **ځئ**، ځینې رسمي بهیرونه او کارونه باید په پام کې ونیسئ. د بنارپانو له دفتر سره د ځان ثبتولو تر څنګ، تاسو باید بانک، د بیمې شرکت یا د ماشومانو ښوونځي ته هم د **خپل نوي ادرس راپور** یا خبر ورکړئ.

**که غواړئ د یوه کرایه ورکونکي او کډوال په توګه د کورونو په اړه بشپړ مالومات لاسته راوړئ نو په ګټو ژبو چمتو شوي د کرایې یا اجارې له لارښوده** (Mietleitfaden) **ګټه واخلئ. دغه لارښود تاسو ته په زکسوني-انالټ کې په یوه کرایه شوي اپارتمان کې د ژوند کولو په اړه بنسټیز او نور مالومات درکوي.**

## په کور دننه د مناسبې هوا ډاډمنول

په خپل اپارتمان کې د اوږدمهال لپاره د ځان ارامه او راحته احساسولو لپاره، تاسو باید خپل اپارتمان ته مناسبه تازه هوا ورکړئ او په مناسب ډول یې ګرم وساتئ. په دې ترتیب، تاسو نه یوازې روغتیا ته ضرر رسونکي چپاسکي یا دیوالونو کې پیدا کېدونکي ناپاکیِ مخه نیسئ، بلکې خپل اپارتمان هم تر ډېرې مودې په ښه حالت کې ساتئ. که له اپارتمانه وځئ، نو په هماغه حالت کې یې باید ببرته وسپارئ چې د کرایه کولو پر مهال تاسو ته سپارل شوی و.

په دې اړه ټول مهم مالومات، کور ته مناسبه تازه هوا ورکول، ګرموالی، د چپاسکي مخنیوالی په ګټو ژبو لیکل شوي مجلې کې موندلی شئ (Lüften, Heizen, Schimmel vermeiden).

## د کثافاتو تنظیمول

په جرمني کې له کثافاتو ګټه اخیستل کېږي یا ریسکایل کېږي. ځکه نو، په ټولو کورونو او ګډو استوګنځایونو کې د کورنۍ کثافات د کثافاتو په مختلفو صندوقونو کې راټولېږي او تنظیمېږي. په خپل ګاونډ کې په دې اړه ځان پوه کړئ چې د مثال په ډول کوم کثافات په کومو صندوقونو اچول کېږي.

د کثافاتو د تنظیمولو په اړه مالومات له دې ځایه لاسته راوړلی شئ.

# څلورم فصل – د جرمن ژبې زده کول او په ټولنه کې په ښه ډول د یوځای کېدو بهیر وده

*په ټولنه کې په اوږدمهال او ښه ډول د یوځای کېدو لپاره او دغه راز په ورځنۍ ژوند کې د فرصتونو لاسته راوړلو پخاطر د جرمن ژبې زده کول مهم دي. د زکسوني–انالټ په ټولو عمده ښارونو او کوچنیو ښارګوټو کې د جرمن ژبې زده کولو مختلف کورسونه او فرصتونه شته. په دې فصل کې به تاسو وموميء چې څرنګه کولی شئ د یوه کډوال په توګه د ژبې زده کولو په یوه ټولګي کې ګډون وکړئ او په زکسوني–انالټ کې به د جرمن ژبې زده کولو نور امکانات هم وموميء.*

## د جرمن ژبې په مټ په اسانۍ سره خبرې کول او ورځنی ژوند په ښه ډول پر مخ وړل

په جرمن ژبه پوهېدل او خبرې کول د جرمني په ټولنه کې په ښه ډول د یوځای کېدو لپاره بنسټیز ارزښت لري. د دې ترڅنګ، په جرمن ژبه پوهېدل ګټور دي. جرمني ژبه د اروپايي ټولنې په هېوادونو، جرمني، اتریش، بلجیم، لوګزامبورګ او دغه راز سوئیزرلنډ او سوېلي تایرول کې رسمي ژبه ده. د عامه ژوند په ډېرو ډګرونو کې، په ګڼو ژبو پوهېدل خورا مهم شوي دي. او: ډېر خلک چې د کډوالۍ قضیې یا د ټېښتې تجربه لري، په جرمن ژبه پوهېږي او خبرې پرې کولی شي!

د جرمن ژبې پوهه په خبرو اترو او محارو کې مرسته کوي. د جرمني ژبه:

- تاسو سره مرسته کوي چې خپلې اندېښنې په مستقیم ډول مطرح کړئ (د مثال په ډول د ټولنیزو عامه ګټو په دفتر کې، د ډاکټر په کلینک کې، په ښوونځي کې) او ځکه نو د مشورو اخیستلو وخت راکموي
- ستاسو د روزنې او دندې موندنې امکانات زیاتوي
- تاسو ژباړونکو ته اړتیا یا ضرورت نه پیدا کوئ
- په ټولنه کې مو خلک صفت کوي، د مثال په ډول په خپله ټولنه کې یا ګډ مشترک‌استوګنځي کې د ژباړونکي په توګه

## په ټولنه کې په ښه ډول د یوځای کېدو کورسونه موندل او په کې ګډون کول

په زکسوني–انالټ کې، لکه په ټوله ایالتي سیمه کې، د جرمن ژبې وړتیا لوړلو او د قانوني سیستم، کلتور او جرمني د تاریخ په اړه د غوره پوهاوي لپاره په ټولنه کې په ښه ډول یوځای کېدو کورسونه (Integrationskurse) وړاندې کېږي. تر څنګ یې، دا تمه هم کېږي چې هر مهاجر او کډوال باید مناسب تعلیم او پوهه لاسته راوړي.

په ټولنه کې په ښه ډول د یوځای کېدو کورسونه په اتوماتیک ډول ټولو کډوالو لپاره پرانیستي نه دي. د مثل شوي کډوال په توګه تاسو حق لرئ چې په ټولنه کې په ښه ډول یوځای کېدو کورسونو کې ګډون وکړئ. ترڅنګ یې، د سوریې، ایران، عراق، اریټریا او سومالیه هېوادونو د پناه غوښتونکو لپاره دغه کورسونه لا له وړاندې د روان طرزالعمل په ترڅ کې پرانیستل شوي دي. مثل شوي کډوال، او له ۲۰۱۷م کال وروسته، پناه غوښتونکي چې د استوګنې ښه امکانات





لري، زغمل شوي کډوال چې د ۲۰۱۶ کال د استوګنې قانون د دوهمې مادې (AufenthG) پر بنسټ د استوګنې جواز لري او دغه راز د استوګنې پنځم قانون د ۲۵ مادې پر اساس د استوګنې جواز لرونکي ښایي ار وي چې په ټولنه کې په ښه ډول د یوځای کېدو کورسونو کې ګډون وکړي. که نوملیکنه وشي نو ګډون ورپرې دی.

◀ په ټولنه کې په ښه ډول د یوځای کېدو کورسونو کې د ګډون د اړتیاو په اړه د نورو مالوماتو لپاره، لطفا په ټولنه کې په ښه ډول د یوځای کېدو کورس په تړاو د BAMF د مالوماتو پاڼه وګورئ (Merkblatt zum Integrationskurs).

په ټولنه کې په ښه ډول یوځای کېدو هر کورس کې د ژبې یو کورس او د بلدتیا یو کورس شامل دي او په ټولیز ډول تقریبا ۶۰۰ تر ۹۰۰ ساعته وخت نیسي. تاسو په ټولنه کې په ښه ډول د یوځای کېدو کورس د ژبې د یوه تصدیق شوي ازموینې په ورکولو بشپړوئ چې د خبرو کچه مو باید په کې GER A2-B1 وي (د ژبې د وړتیا بنسټیزه او منځنۍ کچه).

◀ تاسو کولی شئ خپل نردې، په ټولنه کې په ښه ډول د یوځای کېدو کورس اداره له دې ځایه پیدا کړئ.

## په ټولنه کې په ښه ډول یوځای کېدو کورس لپاره نوملیکنه

په ټولنه کې په ښه ډول یوځای کېدو کورس د برخې په توګه، د ژبې د زده کړې کورس کې د ګډون پخاطر، تاسو باید په ایالتي دفتر (BAMF) کې په ټولنه کې په ښه ډول د یوځای کېدو کورس د ګډون یو غوښتنلیک (Antrag auf die Zulassung zu einem Integrationskurs) ډک کړئ. د غوښتنلیک اړونده فورمه له دې ځایه لاسته راوړئ.

له ایالتي دفتره په ټولنه کې په ښه ډول د یوځای کېدو کورس د ګډون او داخلې (د اجازې سند) له لاسته راوړلو سره سم، تاسو کولی شئ د کورس یو وړاندې کونکی انتخاب کړئ او د ژبې د زده کړې کورس لپاره نوملیکنه وکړئ. تاسو کولی شئ خپلې سیمې کې د کورسونو **وړاندې کونکي** او د کورسونو شته وړاندیزونه د بهرنیانو د ثبت دفتر له لارې د دندو د ایالتي دفتر پر **انلاین پاڼه** „Kursnet“ یا د کډوالۍ مشورو له ځایي دفتره لاسته راوړئ.

**په زکسوني–انالټ کې ځینې ښاروالۍ په ځانګړې ډول د کډوالو له لورې د جرمني ژبې زده کړې ته وده ورکوي پرته له دې چې د هغوی د استوګنې موقف په نظر کې ونیسي. ځینې دغه وړاندیزونه د فیس پر اساس دي. لګښت یې تر ځایه د یو تعلیمي بل (Bildungsgutschein) په مټ پرېکېدلی شي. په دې اړه نور مالومات په خپله سیمه کې د دندو له مرکزه لاسته راوړئ.**

## د جرمني ژبه په انلاین بڼه زده کول

هغه چې غواړي په خپلواکه او ګړندۍ توګه جرمن ژبه زده کړي، کولی شي له ګڼو انټرنیټي وړاندیزونو ګټه پورته کړي.

- **د ژبې د زده کړې اپ** „Einstieg Deutsch" ورځني ژوند ته نږدې د جرمن ژبې د زده کړې روزنه ورکوي، د مثال په توګه (روغتون یا کلینک ته د تلو) یا (چارواکو سره د لیدو) په موخه. دغه وړیا اپ (چې د آی اوس ایس یعني اپل تیلیفونونه او اندرویډ یعني سامسنګ تیلیفونونه دواړه یې لري) په نهو ژبو جوړ شوی او په ځانګړې ډول د هغو لپاره مناسب دی چې په ټولنه کې په ښه ډول یو ځای کېدو یا د جرمني ژبې کورس ته لاسرسی نه لري او غواړي په ګړندۍ توګه د جرمني ژبه تمرین او زده کړي.
- **د زده کړې انلاین پاڼه** Ich will Deutsch lernen لومړنیو او پرمختللو زده کوونکو لپاره له A1 تر B2 کچې په ټولنه کې د یوځای کېدو یو ډیجیټل کورس وړاندې کوي. د کاري او مسلکي ژبې په توګه د جرمن ژبه په ۳۰ حالتونو کې زده کېدای او تمرینېدای شي. وړیا وړاندیز په ۱۶ ژبو جوړ شوی دی.
- د ژبې د زده کړې ګیم Lern Deutsch – die Stadt der Wörter عکسونه، غږونه او نمونه یي جملې لري. له دغه ګیمه کولی شئ انلاین کار واخلئ، د آی او ایس یا اپل تیلیفون او اندروید یا سامسنګ تیلیفون د اپ په توګه او دغه اپ په انګریزي او عربي ژبو جوړ شوی دی.
- د ARD (Bild- und Audiowörterbuch der ARD) تصویري او غږیزه ډیکشنري د پناه غوښتونکو او مرسته کوونکو لپاره په ورځني ژوند کې خبرې اترې اسانه کوي. دغه ډیکشنري د ژوند د ټولو برخو لپاره ۱۷ فصلونه لري.
- د عربي–جرمني / جرمني–عربي یوه انلاین ډیکشنري چې د ژبې زده کړې لپاره مثالونه لري، د لنګینشیدیت خپرندویه شرکت له خوا وړاندې کېږي.
- د Deutsche Welle's **ډویچ وېلې** د جرمني ژبې انلاین روزونکی د جرمني ژبې د اساساتو په اړه روزنه ورکوي.

◀ له دې ځایه کولی شئ د جرمني ژبې د زده کړې انلاین لارښودونه په وړیا ډول لاسته راوړئ ◀

پر انلاین پاڼې Illustratorenfuerflüchtlinge.de د انځورګرانو وړیا عالي او خندونکي د رنګ انځورونه **په ځانګړې ډول د ماشومانو لپاره چې غواړي جرمني ژبه زده کړي هم** شته.





په خپله سیمه کې د کورس وړاندې کونکي له پیدا کولو سملاسي وروسته، هلته د ژبې د زده کړې کورس لپاره نوملیکنه وکړئ او خپل د جواز یا اجازې سند وسپارئ. د کورس وړاندې کونکی ستاسو د ژبې وړتیا د **داخلي د یوې ازموینې** (Einstufungstest) له لارې ارزوي او تاسو لپاره مناسب کورس انتخابوي.

## د ژبې د زده کړې کورسونو ته په ټولنه کې په ښه ډول د یوځای کېدو کورسونو له حق پرته لاسرسی

له ۲۰۱۷م کال له پیله، زکسوني–انالټ پلان لري هغو کډوالو ته د ژبې د زده کړې کورسونه وړاندې کړي چې په ټولنه کې په ښه ډول د یوځای کېدو کورسونو کې د ګډون حق نه لري. په دغو کورسونو کې، تاسو کولی شئ د ژبې د وړتیا تر A۲ کچې د جرمني ژبه زده کړئ او پای کې یوه ازموینه ورکړئ. د دې پر بنسټ، تاسو کولی شئ د دندو اړوند نورو د جرمني ژبې کورسونو کې ګډون وکړئ.

## د زده کړې په کلبونو او د محاورو په کورسونو کې د جرمن ژبې زده کول

ان په ټولنه کې په ښه ډول د یوځای کېدو پخاطر د ژبې کورس ته له لاسري پرته هم، تاسو په زکسوني–انالټ کې د جرمن ژبې د زده کولو ډېر فرصتونه لرئ. د دې لپاره په ډېرو ځایونو کې د ټیټې درجې وړاندیزونه په نامه پروګرام شته. دا د **ژبې کورسونه یا د ژبې د زده کړې کلبونه** (Sprachlerntreffs) دي، د هغو خلکو لپاره چې په جرمن ژبه تقریبا هېڅ نه پوهیږي، او په ځانګړې ډول هغو سیمو لپاره دي چې محاوره او خبرې اترې په کې مهمې دي. په ډېرو سیمو کې د ښځو لپاره هم ځانګړي کورسونه شته چې تر ځایه د ماشومانو د پاملرنې امکانات هم لري.

د ژبې دغه ډول کورسونه او د زده کړې کلبونه تر ډېره وړیا دي او تر ډېره د هغو له خوا وړاندې کېږي چې مورنۍ ژبه یې جرمني ده (رضاکاران)، چې غواړي د ژبو په کافیو یا د هرکلي په کلبونو کې له کډوالو سره مرسته وکړي. غوره دا ده، چې په سیمه کې د شته وړاندیزونو په اړه پوښتنه وکړئ د مثال په ډول د هرکلي په یوه پروګرام کې.

**مشران هم** کولی شي چې په ټوله زکسوني–انالټ کې د جرمن ژبې د زده کړې کورسونو او تعلیمي ادارو (لکه ټولنیزو کالیجونو [Volkshochschulen] او اروپایي تعلیمي ټولنې [Europäisches Bildungswerk]) کې ګډون وکړي. د ښلا ښلو کورسونو او ممکنه لګښتونو په اړه په مستقیم ډول له ځایي وړاندې کونکي څخه مالومات ترلاسه کړئ.
د **ماشومانو** لپاره، پر جرمن ژبه خبرې کونکو استادانو تر دوامداره ځار لاندې د تفریح پر مهال په ځانګړې ډول د لوبیزو زده کړو سپارښتنه کېږي.

# پنځم فصل – د کار بازار او روزنه

*تاسو ښاروالۍ ته رسېدلي ياست خو او د پناه غوښتنې طرزالعمل يا بهير مو ښايي لا بشپړ نه وي. خو بيا هم، تاسو غواړئ چې په سملاسي ډول دنده لاسته راوړئ يا په روزنه کې يو کاري ژوند جوړ کړئ.*
*په دې فصل کې به تاسو وموميء چې په زکسوني–انالټ کې کوم چارواکي/اداري او خدمتونه تاسو سره د کار او روزنې په لومړنيو ګامونو کې مرسته کوي، څرنګه کولی شئ خپله **مسلکي وړتيا او تعليم** لوړ کړئ، له کومو لارو **مسلکي روزنه** لاسته راوړلی شئ او د کار بازار کې **يوځای کېدل** په ځانګړې ډول د کډوالو يوځای کېدل څرنګه ممکن دی.*

## کار او روزنه ستاسو لپاره ولې مهم دي

د ژوند د وړتيا تر څنګ، کار (دنده) او روزنه د ټولنيز يوځای والي بنسټ جوړوي. د دندې يا روزنې له لارې تاسو:

- په جرمني کې د خپل اوږدمهاله ژوند چانسونه زياتوئ
- اقتصادي خپلواکي، قدرت او شخصي رضايت يا قناعت لاسته راوړلی شئ
- د اوږدمهاله لپاره خپله وړتيا لوړولی شئ او خپل ورځنی ژوند تنظيمولی شئ
- په ټولنه کې خپل ګډون او ونډه زياتولی شئ
- د بې روزګارۍ او تقاعد بيمې په برخه کې خپلې ادعاوې او غوښتنې په مثبت ډول غښتلي کولی شئ.

## کار او روزنې ته د لاسرسي فعاله وده

د زکسوني–انالټ په هره سيمه کې، د مسلکي مشورو، تصديق او تعليم يا وړتيا لوړولو لپاره ځانګړې وړانديزونه شته چې د کار په بازار او روزنه کې ستاسو يوځای کېدو سره مرسته کوي.

لاندې موضوع ګانې مهمې دي:

- **څومره ژر چې کولی شئ ځان فعاله کړئ**، د کار په بازار کې د خپلو لومړنيو ګامونو او تعليم يا وړتيا په تړاو. په دې کې ښايي د مشورو مرکزونو ته تګ يا د دندې د فرصت لټون شامل وي تر څو تاسو وکولی شئ په زکسوني–انالټ کې د کار ځايي بازار په اړه پوهاوی لاسته راوړئ او وکولی شئ چې په لا نور حقيقي ډول خپل کاري ژوند پلان کړئ.

- **څومره ډېر چې کولی شئ وړاندې شوي فرصتونه وګورئ** او د کار او روزنې بازار کې د مرسته کونکو مرستې ومنئ. تل داسې وي چې ستاسو خپلې هڅې او د کار، روزنې يا زده کړو بازار ټول سره يوځای ستاسو د يوځای کېدو بهير غښتلی کوي.





## د کار بازار کې لومړني ګامونه

په زکسوني–انالټ او ايالتي سيمو کې ستاسو د دندو لټون يا لاسته راوړل په اصولي ډول ستاسو د استوګنې موقف (او قانوني موقف) پورې تړلې مسله ده.

- د يوه داسې کس په توګه چې د پناه غوښتنې حق لري يا د يوه **منل شوي کډوال په توګه چې د استوګنې جواز لري** تاسو **د ګټورې دندې (چې معاش ولري) بشپړه اجازه** لرئ. ځکه نو تاسو يا د کارګونکي په توګه دنده ترسره کولی شئ يا خپل شخصي کاروبار پيلولی شئ. تاسو د کار په مرکزونو کې د دندې موندلو مرستې او غيرفعاله ګټې يا منفعتونه د SGB II پر بنسټ لاسته راوړلی شئ.
- **که تاسو تر څلورو کلونو په قانوني ډول په ايالتي سيمه کې اوسېدلي ياست**، نو کولی شئ د زغمل شوي کډوال په توګه د کار په ازاد بازار کې هم د دندو د اداري له اجازې پرته دنده پيدا کړئ.
- که پر تاسو د **تبعيد بنديز** لګېدلی وي، تاسو کولی شئ د بهرنيانو د ثبت په دفتر کې د دندې وړانديز لاسته راوړلو وروسته غوښتنليک وسپارئ. د بهرنيانو د ثبت دفتر د دندو له اداري څخه لازمه منظوري لاسته راوړي او د دندې د جواز (Arbeitserlaubnis) په اړه پرېکړه کوي.

## رسمي اړتياوې او ضرورتونه

### د کار يا دندې جواز (Arbeitserlaubnis or Beschäftigungerlaubnis)

په زکسوني–انالټ کې د دندې يا کار کولو لپاره، تاسو د **دندې يا کار يوه جواز** (Arbeitserlaubnis or Beschäftigungerlaubnis) ته اړتيا لرئ.
که تاسو د يوه کډوال په توګه منل شوي ياست او که تاسو د بشري يا سياسي دلايلو پر اساس د استوګنې جواز لاسته راوړی، تاسو هر ډول دنده منلی شئ، په دې شرط چې د پېژندګلوی يا هويت اسنادو کې مو دا خبره ليکل شوې وي „دندې ته اجازه شته (Beschäftigung gestattet)“ يا „ګټوړي دندې ته اجازه شته (Erwerbstätigkeit gestattet)“.

د پناه غوښتونکي په توګه چې د اوسېدو حق يا اجازه (Aufenthaltsgestattung) لرئ يا د زغمل شوي کډوال (Duldung), په توګه، تاسو بايد لاندې قانوني مسايلو ته پام وکړئ:

۱) تاسو به د دندې يا کار جواز (Arbeitserlaubnis) **د پناه غوښتونکي په توګه ستاسو له لومړني ثبت بهير درې مياشتې** وروسته لاسته راوړئ.

۲) د دندې جواز لاسته راوړلو لپاره، تاسو د **بهرنيانو د ثبت دفتر منظورۍ** ته اړتيا لرئ. د دندې جواز لاسته راوړلو لپاره بايد د **بهرنيانو د ثبت مسولې** ادارې ته غوښتنليک وسپارل شي. که د دندې جواز صادر شو، نو په سند کې مو د دې خبرې يادونه کېږي چې پاتې شئ يا Duldung، او دا يادونه ورسره وي „ګټوړي دندې ته يوازې د بهرنيانو د ثبت د فتر د اجازې پر بنسټ اجازه ورکړل شوې. („Erwerbstätigkeit nur mit Genehmigung der Ausländerbehörde gestattet“).

۳) د بهرنيانو د ثبت دفتر ستاسو انفرادي قضيې ته په کتو پرېکړه کوي چې د دندې اجازه درکړي که نه. دغه دفتر ګوري **چې کومې ادارې تاسو ته د دندې ډاډ** درکړی. د منظورۍ تر څنګ، **د دندې اداره بايد هوکړه** وکړي. تاسو اړ نه ياست چې خپله د دندې ادارې هوکړه لاسته راوړئ. دا هوکړه د بهرنيانو د ثبت دفتر له خوا اخيستل کېږي. په ايالتي سيمه کې له څلورو کلونو استوګنې وروسته، تاسو نو د دندې ادارې منظورۍ ته اړتيا نه لرئ.

٤) د دندې اداره ګوري چې ستاسو د کار ځای قانوني اړتياوې پوره کوي که نه. ستاسو معاش او د کار حالت يا خرنګوالی بايد د جرمني کارګرنکو په پرتله کمزوري يا کم نه وي.

که واحد ګامونه په مثبت ډول پر مخ تللي وي، تاسو په عمومي ډول **د اوسېدو له اجازې يا يوه** Duldung **سره هم کار کولی شئ**. د مثال په ډول، تاسو د يوه موقتي کارګرنکي (موقتي دنده) په توګه هم دنده منلی شئ. تاسو د دندې په اداره کې د بې کاری لپاره هم غوښتنليک سپارلی شئ (arbeitssuchend melden). د دندې اداره تل په دې اړه تاسو سره مرسټې او مشورو لپاره چمتو ده.





**که تاسو د اوسېدو اجازه (Aufenthaltsgestattung) لاسته راوړه، نو د کار يا روزنې له پيل وروسته تاسو د استوګنې د ځانګړې موقف مستحق نه ياست. که تاسو کار کوئ يا د روزنې په لټه کې ياست، دا ستاسو د پناه غوښتنې پر غوښتنليک اغېزه نه کوي. که تاسو يو Duldung لاسته راوړئ، نو د دندې ترسره کول ستاسو د Duldung له غځولو يا د قانوني موقف له صادرېدو سره تړاو لري.**

## د کار محدود جواز يا اجازه او د کار بنديز

تاسو په زکسوني–انالټ او دغه راز په ټوله ايالتي سيمه کې د **کار کولو اجازه نه لرئ** که تاسو:

- د هرکلي په لومړي مرکز (LAE) کې اوسېرئ. د LAE استوګنې اړتيا تر شپږو مياشتو تطبيقېږي او زيات نه زيات تر شپږو نورو مياشتو غځېدای شي.
- تاسو په نامه له خوندي هېوادونو (د اروپايي ټولنې غړي هېوادونه، البانيا، بوسنيا او هرزيګوينيا، ګانا، کوسوو، مقدونيه، مونټينيګرو، سينيګال او سربستان) راغلي ياست او د **پناه غوښتنې غوښتنليک مو د ۲۰۱۵م کال د اګست له ۳۱مې مخکې** سپارلی
- د خپل هويت يا تابعت په اړه مو درواغ ويلي

**د کار بنديز په صورت کې دا نوټ „د ګټوړي دندې اجازه نشته“ (Erwerbstätigkeit nicht gestattet) ستاسو د استوګنځي په اسنادو کې ښکاره کېږي. که د استوګنې د حق په اړه کومه پوښتنه لرئ (د مثال په ډول د دندې جواز په اړه)، لطفا په خپله سيمه کې د بهرنيانو د ثبت مسول دفتر سره اړيکه ونيسئ.**

## په بهر کې د لاسته راغلي تعليم او مسلکي وړتيا د برابروالي ارزونه

په جرمني کې ګڼ مسلکونه او دندې ښايي يوازې هغه مهال پر مخ يوسئ چې مشخص تعليم او زده کړې مو کړې وي او اسناد يې ولرئ. لکه قانوني شوي مسلکونه (reglementierte Berufe) د مثال په ډول ډاکټران، اروا‌پوهان، نرسان يا ښونکي. په دې خاطر چې تاسو په خپل مسلک کې د کار جوګه شئ، ښايي اړتيا وي چې بهر کې لاسته راغلې خپلې مسلکي زده کړې او وړتياوې تثبيت کړئ يا ورته اعتبار ورکړئ. د غير قانوني شوي مسلکونو په صورت کې، ګومارونکې اداره پرېکړه کولی شي چې بهر کې لاسته راغلې مسلکي زده کړې او وړتياوې د منلو وړ دي که نه. د رسمي زده کړو او وړتياو له اسنادو پرته او د اړوندو سندونو يا ديپلومونو له وړاندې کولو پرته، په دغو مسلکي ډګرونو کې د مناسبو دندو موندل ګران دي.

**ستاسو د شته مسلکي وړتیاو د اعتبار بهیر په اړه مالومات په ګټو ژبو جوړ شوي اپ (شپږ بهرنۍ ژبې) Anerkennung in Deutschland کې هم شته.**

## د جرمني د کار ځایونو پر سیستم ځان پوهول

خپلې ښاروالۍ کې له رسېدو سره سم، تاسو قانوني عمر لرئ او نور اړ نه یاست چې اجباري زده کړې وکړئ، تاسو باید خپل ټول امکانات وکاروئ چې د کار بازار ته دننه شئ او دنده ومومئ.

د پناه غوښتنې په روان طرزالعمل او بهیر کې، تاسو دا چانس لرئ چې د **کډوالو د یوځای کېدو ګامونو** (Flüchtlingsintegrationsmaßnahmen – FIM). خپله ګټه پورته کړئ. دا د **دندې موندلو فرصتونه** (Arbeitsgelegenheiten) دي، او هدف یې په غیر منفعتي اداره کې له کار او دندې دی. دا په ځانګړې ډول ستاسو ټولنیز او مسلکي یوځای والی او ګډون کې مرسته کوي. که تاسو ته یې وړاندیز وشو نو له دغه فرصته ګټه پورته کړئ، که لږترلږه ۱۸ کاله عمر لرئ او له داسې هېواده نه یې راغلي چې خوندي بلل شوی دی. په دې ترتیب، تاسو کولی شئ چې په لومړني پړاو کې د ځایي کار بازار په اړه پوهاوی لاسته راوړئ.

**د کډوالو د یوځای کېدو ګامونه د بشپړ وخت / رسمي دندې په معنا نه دی. د ژبې یا ټولنه کې د یوځای کېدو کورس کې ستاسو ګډون، د دندې د ودې یا موندلو په یوه اقدام، په یوه مسلکي روزنه یا د زده کړې په یوه پروګرام کې ګډون، تل د دندو پر فرصتونو لومړیتوب لري.**

په کاري ډګر کې د ننوتلو یو بل چانس یا فرصت **مسلکي روزنه / انټرنشپ** (Praktikum) دی. مسلکي روزنه په یوه شرکت کې د دندې په معنا ده چې هدف یې د مسلکي پوهې لاسته راوړل او په راتلونکي کې د مسلکي فعالیت جوګه کېدل دي. له دې لارې، تاسو کولی شئ مسلکي تجربه لاسته راوړئ او مسلکي وړتیاوې پیدا کړئ. مسلکي روزنه له رسمي دندې سره پرتله کېږي خو په هېڅ ډول معاش نه لري. ازمېښتې مسلکي روزنه (Schnupperpraktikum)، چې





که مو په خپل اصلي هېواد کې لا له وړاندې مسلکي دندې پر مخ وړې یا مو مسلکي وړتیاوې او تجربه لاسته راوړې، تاسو باید ژرترژره خپل تعلیمي او مسلکي وړتیاوې پر اړوندو چارواکو و ارزوئ او ومنئ. دا کار ستاسو د مسلکي یوځای والي او پرمختګ چانسونه زیاتوي.

**په زکسوني–انالټ کې په کار ګومارونکي او شرکتونه د یوه مشخصې دندې لپاره ستاسو وړتیا هغه مهال په ښه ډول ارزولی شي چې ستاسو له مسلکي وړتیاوو خبر وي او تاسو یې اسناد ورته وسپارئ.**

په اصولي ډول، د کډوالۍ له موقف او د تابعت سربېره، تاسو د یوه پناه غوښتونکي په توګه د خپل مسلکي وړتیاو د اعتبار او منلو پخاطر غوښتنلیک سپارلی شئ. خو، ستاسو په بهر کې لاسته راغلو مسلکي وړتیاو اعتباري کېدل په اتوماتیک ډول دا معنا نه لري چې تاسو په جرمني کې د کار کولو حق لرئ. د دندې او کار جواز لپاره پورته یاد شوي اضافي اړتیاوې هم لازمې دي.
د مسلکي اعتبار لپاره د غوښتنلیک فیسونه ښایي څو سوه یورو ته ورسېږي. (ژباړل شوي) اسناد، تصدیقونه، د سفر لګښتونه یا د ژبې زده کړه ښایي اضافي مصرف ولري.

**په دې خاطر چې وپوهېږئ ستاسو په ټولنه کې ستاسو د مسلکي ګډون او یوځای والي لپاره مسلکي اعتبار څومره مهم دی، په جرمني کې د اعتبار یا منل کېدو (Anerkennung in Deutschland) پاڼې ویډیوګانې وګورئ.**

## د مسلکي وړتیاو د اعتبار او منل کېدو په برخه کې مرسته

په بهر کې د لاسته راغلو مسلکي وړتیاوو د برابروالي ارزونې لپاره، د اعتبار غوښتونکي باید د اعتبار او منلو هغه دفتر ته غوښتنلیک وسپاري چې د دوی د مسلک مسولیت لري.
تاسو د اعتبار بهیر لپاره د مسول دفتر ادرس په جرمني کې د اعتبار له پاڼې (Anerkennung in Deutschland) او د اعتبار موندونکي په مټ لاسته راوړلی شئ.

د اعتبار په تړاو د Network IQ „د مسلکي وړتیاو له لارې ټولنه کې ګډون" تاسو ته مرستې او مشورې درکوي چې مسول دفتر پیدا کړئ او د اعتبار بهیر او طرزالعمل ته چمتووالی ونیسئ. لطفا د اعتبار د مشورو اداري سره اړیکه ونیسئ که:

- غواړئ وپوهېږئ، ولې او څرنګه د اعتبار طرزالعمل ستاسو لپاره مهم دی
- غواړئ چې د اعتبار ځانګړې مشورې او مرستې لاسته راوړئ
- د مسلکي اعتبار د غوښتنلیک جوړولو په برخه کې مرستې ته اړتیا لرئ
- غواړئ ځان د مسلکي وړتیاو پر امکاناتو وپوهوئ، په هغه صورت کې چې ستاسو دیپلوم موجود نه وي یا په جزیي ډول اعتبار پیدا کړي.

صنعت یو مسلک ځانته غوره کړئ. تاسو کولی شئ له ۱۳۰ مسلکونو څخه یو غوره کړئ. که تاسو د مهارتونو په روزنه او کار کې لېوالتیا لرئ، لطفا په زکسوني–انالټ کې د مهارتونو د خونو (Handwerkskammer) له مسولینو سره اړیکه ونیسي.

**که تاسو د کومې روزنې په لټه کې یاست، باید د جرمني ژبې د لوړې درجې پوهه (B۱ کچه) لاسته راوړئ. دا به غوره وي که د مثال په ډول تاسو وکولی شئ خپلې لومړنۍ مسلکي تجربې چې د یوې روزنې یا له مسلکي روزونو وړاندې اقدامونو له لارې مو لاسته راوړې وي، ثابتې کړئ.**

## د مسلکي روزنې په پیلولو یا ورته په چمتووالي کې مرسته

په زکسوني–انالټ کې، ځوان کډوال د یوې روزنې بشپړولو لپاره هدفي مرستې لاسته راوړي. په ټولیز ډول **په روزنه کې د ځوانانو د یوځای کولو شپږ مشخص پروګرامونه او پروژې په ځانګړې** ډول د یادونې وړ دي.

۱) د **„کډوال په دوه ګوني روزنه کې** (Migrant*innen in Duale Ausbildung) – **MiiDu** پروژې موخه دا ده چې کوچنیان او میندې او پلرونه چې له پناه غوښتونکو ګرنیو دي، ته د دوه ګوني روزنې په اړه مالومات ورکړي او په شرکت کې یې دننه روزنې ته چمتو کړي. په زکسوني–انالټ کې سیمه ییز شرکتونه په هدفي ډول سره یوځای شوي دي، ځکه نو په محلي کار ځایونو کې د عملي کار لومړۍ تجربه وړاندې کوي. ځانونه د کوچنیانو او میندو او پلرونو لپاره د مالوماتو د پاڼو په مرسته وپوهوئ (Infoblätter für Jugendliche und Eltern) او په مستقیم ډول په اړیکه کې شئ.

۲) د **مسلکي روزنې او ژبې د چمتووالي کال په اوږدو کې** (Berufsvorbereitungsjahres Sprache - BVJ-S) له ۱۸ کلونو د ټیټ عمر کډوال کولی شي د جرمني ژبې لومړنۍ زده کړې لاسته راوړي او وروسته بیا د **مسلکي چمتووالي کال** Berufsvorbereitungsjahr - BVJ ته ولیږدول شي چې دوی په کې د ښوونځي د دولسم ټولګي په کچه تعلیم او وړتیاوې لاسته راوړلی شي(Hauptschulabschluss) .

۳) د **داخلي کچې مسلکي تعلیم او وړتیاو روزنه** (Einstiegsqualifizierung - EQ ) ++ د قانوني عمر کډوالو لپاره د روزنې د چمتووالي وړاندیز دی چې په یوه شرکت کې دننه مسلکي روزنه، د مسلکي زده کړو چمتووالی او د ژبې وده په کې شامل دي. په پیل کې، د بودیجې او مرستې دغه پروګرام د زکسوني–انالټ په دریو سیمو کې ازمویل کیږي.

٤) د **راتلونکي چانس د مرستې روزنې** (Zukunftschance assistierte Ausbildung) سیمه ییز پروګرام د ډنډو ایالتي ادارې په همکارۍ پلی شوی او دا هم په ځانګړې ډول ځوان کډوال په نښه کوي. تاسو سره مرسته کیږي چې د مناسب چمتووالي او بشپړ ټولنیز–پیداګوژي (تعلیم) همکاریو په مټ خپله مسلکي روزنه په بریالیتوب بشپړه کړئ.

۵) د ځوانو کډوالو لپاره سیمه ییز پروګرام BRAFO ځوانو کډوالو لپاره د ځوانانو د یوځای کېدو یا ګډون له کورس (Jugendintegrationskurs) وروسته د دندې او کار د لوړې کچې لارښونه یا بلدتیا، د وړتیاو ارزونه او مسلکي ازموینه برابروي.





امتحاني دنده (Probebeschäftigung) هم بلل کیږي، یوه استثنا ده. په دغه ډول کار کې، په عمومي ډول قانوني لږترلږه معاش ورکول کیږي. د پناه غوښتونکو او زغمل شویو کډوالو لپاره نور په ایالتي کچه د دندې اداري جواز ته اړتیا نشته.

**د مسلکي روزنې پر مهال لاسته راغلې مسلکي تجربه د وړتیاو ارزښتناکه ثبوت دی. تاسو ته سپارښتنه کیږي چې په راتلونکي غوښتنلیک کې مو د دغه ډول تجربو یادونه وکړئ.**

د دندو ایالتي اداره (Bundesagentur für Arbeit ) پناه غوښتونکو او زغمل شویو کډوالو لپاره د **مرکزي تیلیفون شمېرې +۴۹ ۲۲۸ ۷۱۳ ۲۰۰۰** له لارې د مسلکي فعالیتونو او مسلکي رزونو په اړه مالومات ورکوي.

**مشوره:** د جرمني د کار بازار لپاره د ځان چمتو کولو پخاطر د ایالتي رضاکاره خدمتونه (Bundesfreiwilligendienst - BFD) هم یوه ښه لاره ده، هم له نظري او هم له عملي پلوه. په دې اړه د تفصیلي مالوماتو لپاره اتم فصل وګورئ.

## د مسلکي روزنې له لارې د دندې او کار امکانات

### مسلکي (دوه ګوني) روزنه

په جرمني کې، د روزنې تقریبا ۴۰۰ مختلف منل شوي پروګرامونه وړاندې کیږي. دوه ګوني مسلکي روزنه کې د زده کړې نظري او عملي مواد شامل وي. روزنه په دوو برخو وېشل شوي وي چې یوه برخه یې یوه شرکت کې مسلکي لارښونه وي او بله یې په یوه مسلکي ښوونځي کې تعلیم وي. د پیل لپاره یې د ښوونځي د هرې کچې درس او تعلیم کارېدی شي او د روزنې پیسې تاکلې دي. که ځوان کډوال په زکسوني–انالټ یا ایالتي سیمو کې روزنه پیل کړي، دوی کولی شي د حکومتي مرستو غوښتنه وکړي (د مسلکي روزنې مرستې – Berufsausbildungsbeihilfe).

مسلکي روزنه ستاسو د مسلکي او کاري راتلونکي لپاره یوه مهمه پانګونه ده. زغمل شوي کډوال چې دغه راز کومه روزنه پیلوي نو د روزنې تر مودې ورته خوندي استوګنه برابرېږي.

پناه غوښتونکي قانوني جواز لري چې د تمریني روزنو / انټرنشپ لپاره یوه مسلکي روزنه پیل کړي. دغه اجازه یا جواز تاسو ته باید د بهرنیانو د ثبت دفتر (Ausländerbehörde) له خوا درکړل شي او هېڅ راز محدودیت باید و نه لري.

د مهارتونو یا صنعت دوه ګوني روزنه (duale Ausbildung im Handwerk) په زکسوني–انالټ کې د روزنې او مسلکي کار د ترکیب یو مثال دی. د یوه کډوال په توګه چې قانوني موقف لري، تاسو کولی شئ په زکسوني–انالټ کې د مهارتونو یا

په زکسوني–انالټ کې په پوهنتونونو کې د زده کړو د امکاناتو په اړه د مالوماتو لپاره د اړوند پوهنتون د هرکلي مرکز Welcome-Center یا نړیوال دفتر International Office وګورئ. د کار ځایي اداري د جرمني ژبې زده کړې بنسټیز مالومات هم ورکوي.

**تاسو د زده کړې ټولې مودې لپاره د استوګنې جواز ته اړتیا لرئ. په جرمني او زکسوني–انالټ کې د زده کړو لپاره څومره چې ممکنه ده پخپله ځان وپوهوئ مخکې له دې چې د دندو په اداره کې شخصي مشورې پیل کړئ، د مثال په ډول د مالوماتي وېبپاڼې په جرمني کې زده کړې (Studieren in Deutschland) له لارې. تاسو د استوګنې په خپله سیمه یا په راتلونکي کې د خپلې زده کړې ځای کې د پوهنتون د عامه مالوماتو له ورځې ګټه پورته کړئ.**

## د دندو د اداري یا د دندو د مرکز له لورې د کار بازار ته معرفي کېدل

که تاسو د استوګنې جواز یا Duldung لاسته راوړئ، په عمومي ډول، د **دندو ځایي اداره او د دندو ځایي مرکز** تاسو ته د مشورو او د کار بازار ته د معرفي کولو مسولیت لري. د مثال په ډول تاسو دغو ځایونو کې د بې روزګاره شخص په توګه ځان ثبتولی شئ. د دندو اداره:

- په زکسوني–انالټ کې د کار بازار په اړه مالومات ورکوي
- تاسو ته په ټولنه کې په مسلکي ډول د یوځای کېدو (دندې موندلو) او وړتیاو لوړولو امکاناتو په اړه ځانګړې مشورې درکوي
- تاسو ته دنده یا د روزنې فرصت پیدا کوي.



**تر هغو چې تاسو د کار بازار ته لاسرسی نه لرئ، تاسو یوازې د مشورو هغه خدمتونه کارولی شئ چې د دندو د ادارو له خوا وړاندې کېږي. که د دندو د جواز قانوني اړتیاوې مو پوره وي، نو د دندو د اداري د مشورو او دندو موندلو وړاندیزونه ستاسو لپاره موجود او ممکن دي. که تاسو د SBG II له مخې د ګټو او منفعتونو مستحق یاست (د مثال په ډول منل شوي پناه غوښتونکي)، نو تاسو ته د مشورو او دندې موندلو مسولیت د کار ځایي مرکز په غاړه دی.**





٦) د **روزنې او کډوالۍ د همغږۍ مرکز** (Koordinierungsstelle Ausbildung und Migration – KAUSA) له هغو شخصي کاروباریانو، کوچنیانو او میندو او پلرونو سره مرسته کوي چې د کډوالۍ قضیې لري او دغه راز له ځوانو کډوالو سره په مسلکي او د کار ډګر کې د یوځای کېدو مرسته کوي.

۷) سیمه ییز پروګرام Landesnetzwerkstelle des Landesprogramms Regionales Übergangsmanagement (RÜMSA) مسلکي روزنې ته د چمتووالي په برخه کې د تقاطیي صلاحیتونو د همکارۍ مرسته کوي .

**په خپله سیمه کې یا ورته نږدې سیمه کې د دندو له اداري سره اړیکه ونیسئ. کله چې ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک ومنل شي، تاسو به پرانځې مرستې لاسته راوړئ. که تاسو د منل شوي کډوال په توګه د خوندیتابه بنسټیزې ګټې لاسته راوړې نو د کار ځایي مرکزونه ستاسو د اړیکو لومړۍ اداره او اشخاص دي.**

**دلته تاسو کولی شئ ژر د ځایي چارواکو ادرسونه پیدا کړئ.**

## زده کړې

**په زکسوني–انالټ کې په یوه کالج یا پوهنتون کې زده کړې ترسره کول** د جرمني د کار په بازار کې د خپلو چانسونو زیاتولو یوه بله لاره د. خو، د پوهنتون د کچې زده کړو اړتیاوې لوړې دي. تاسو پوهنتون ته د داخلې سند ته او د جرمني ژبې د لوړې کچې پوهې ته اړتیا لرئ.

**لطفا په یاد ولرئ:** اوسمهال په زکسوني–انالټ کې زده کړې فیسونو ته اړتیا نه لري. خو بیا هم د سمستر فیسونه شته. د دې تر څنګ، تاسو باید د زده کړو پر مهال خپل لګښتونه خپله پوره کړئ. که لازمه وي، د مرستو امکانات شته، د مثال په ډول د حکومتي مرستو له لارې (BAföG) یا تعلیمي بورس.

په زکسوني انالټ کې، د کډوالو لپاره په ټاکلو سیمو کې د زده کړو ګڼ پروګرامونه شته. که لازمې اړتیاوې پې پوره کړئ، د Magdeburg-Stendal University of Applied Sciences مګډیبرګ–سټینډل د عملي ساینسي زده کړو پوهنتون د پوهنتون د بشپړو زده کړو امکانات وړاندې کوي. د هال پوهنتون The University of Halle پناه غوښتونکو ته فرصت ورکوي چې په وړیا ډول د مېلمه ځارونکو په توګه ځانونه ثبت کړي. د مېلمه په توګه ځار د پوهنتون او د پوهنتون د تعلیم پر اړتیاو د ځان پوهاوي لومړی فرصت دی.

د **دندې لټون، کار بازار او مسلک په ځېر موضوع ګانو** په اړه، **چې له ننوتلو او استوګنې سره تړاو لري**، د ایالتي دفتر د اړوندې شمېرې (BAMF) **په جرمني کې کار او ژوند** (Arbeit und Leben in Deutschland) **+۴۹ ۳۰ ۱۸۱۵ ۱۱۱۱** له لارې ځان وپوهوئ (له دوشنبې تر چارشنبې، د سهار له نهو بجو، له غرمې وروسته تر دریو بجو، اړیکې لکښت لري). د دغې خدمتي شمېرې له لارې تاسو په زکسوني–انالټ او په ایالتي سیمه کې په جرمني او انګریزي ژبه د یادو موضوع ګانو په اړه او د خپلې دندې په تړاو شخصي مشورې لاسته راوړلی شئ.

**مشوره:** په زکسوني–انالټ کې د مسلکیانو د ډاډ پورټل (Fachkräftesicherungsportals) وېبپاڼه د پروګرامونو د تمویل، د مسلکي روزنې د نظریې او ډېرو نورو مسلو په اړه مهم مالومات وړاندې کوي. په زکسوني–انالټ کې په روزنیزو پروګرامونو او د کار بازار سره د یوځای کېدو په اړه مهم مالومات او د مناسبو مرستیالانو د اړیکو شمېرې او تفصیل د زکسوني–انالټ شبکې لارښود Orientierungsleitfaden des IQ Netzwerk Sachsen-Anhalt کې موندلی شئ.

## هرکلي خدمتونو Willkommensbegleitung او د دندې مثبت پل (Jobbrücke PLUS) له لورې د دندې په لټون کې مشورې او مرستې

زکسوني–انالټ پناه غوښتونکو ته د استوګنې جواز، زغمل شویو اشخاصو او منل شویو کډوالو ته د کار بازار کې د یوځای کېدو لپاره پراخې مرستې وړاندې کوي. د دې لپاره، تمول شوي پروګرامونه لکه د هرکلي خدمتونه (Willkommensbegleitung)، مسلکي په فوکس یا دقت کې (Fachkraft im Fokus) یا د دندې مثبت پل (Jobbrücke PLUS) موجود دي. دوی همدا موخه لري – چې په ممکنه توګه تاسو په چټک ډول د کار له بازار سره یوځای شئ. ځینې وړاندیزونه ښایي تکراري یا یو شان وي. د مشورو په مرکز کې لطفا په ډاډه زړه د ځانګړو حل لارو پوښتنه وکړئ.

**په هر صورت:** د ښارواليِ وړاندیزونه هم تاسو سره په کار او د روزنې په مسلو کې مرسته کوي، د مثال په ډول د هال ښار د هرکلي وړاندیزونو (Willkommensmappe) لري، په ځانګړي ډول د ځوانو کډوالو لپاره.

## په زکسین–انالټ کې د سیمه ییز پروګرام مسلکي په فوکس یا دقت کې (Fachkraft im Fokus - FiF) د هرکلي خدمتونه

په زکسوني–انالټ کې د هرکلي خدمتونو کارکونکي، مسلکي کسان او شرکتونه سره یوځای کوي. د دغه پروګرام د اړیکې شخص له تاسو سره مرسته کوي چې د زکسوني–انالټ په شرکتونو کې د مناسبو دندو فرصتونه پیدا کړئ. دوی:

- له تاسو سره د وړتیا یو پروفایل یا شخصي مالومات جوړوي او ستاسو د لا نور مسلکي پراختیا او ودې لپاره یو پلان جوړوي
- تاسو سره مرسته کوي چې په دنده ګومارونکي پر وړاندې تاسو د خپل غوښتنلیک اسناد په ښه ډول ترتیب او وړاندې کړئ





- په مسلکي او کاري ژوند کې د یوځای کېدو بهیر کې ستاسو ملتیا کوي او د امتحاني دورې یا مسلکي روزنې پر مهال ستاسو د اړیکې شخص په توګه رول لوبوي
- د اداري بهیرونو، ماشوم ته د پاملرنې، استوګنې او نورو مسلو په اړه مالومات درکوي.

تاسو په دې اړه نور مالومات د مشورو له سیمه ییزو مرکزونو لاسته راوړلی شئ: (Regionalberatungsstellen) په مګډیبرګ (Magdeburg) کې، هال (Halle)، سټینډل (Stendal)، هلبرسټډ (Halberstadt) او دیساو–روزلا (Dessau-Roßlau).

**د مشورو غونډو او لیدژمنو لپاره د هرکلي خدمتونو د اړیکو فورمه** (Kontaktformular der Willkommensbegleitung) **وکاروئ!**

## د دندې مثبت پل (Jobbrücke PLUS)

**د دندې مثبت پل** (Jobbrücke PLUS) پروژه هم تاسو سره په زکسوني–انالټ کې د دندو فرصتونو پیدا کولو کې مرسته کوي. د دغه وړاندیز ټینګار پر دې دی چې تاسو په ښوونځي کې داخله وکړئ یا پخوانۍ نیمګړې زده کړې بیا پیل کړئ. موخه یې دا ده چې تاسو داسې وړتیاوې لاسته راوړئ چې د مسلک او دندې موندلو لپاره ګټوري وي.

د دغې پروژې نور وړاندیزونه په لاندې ډول دي:

- د کار بازار ته په پام سره ځانګړې مشورې
- په بهر کې د لاسته راغلو وړتیاو او زده کړو د اعتبار او منل کېدو په برخه کې مرسته
- د دندو په تړاو وړتیا او زده کړې چې د ژبې پوهه هم په کې شامله وي، د وړتیاو ارزونه
- د کار بازار او رونیزو فرصتونو ته معرفي کېدل

د خپلې غوښتنې لپاره لطفا د دندې مثبت پل (Jobbrücke PLUS) له سیمه ییز استازي سره اړیکه ونیسئ.

## پر انلاین د دندو فرصتونو او وړاندیزونو موندل – د کار بازارونه

تاسو په زکسوني–انالټ کې د FIF د دندو او د مسلکیانو پر انلاین پاڼې یا بورډ (Stellen- und Fachkräftebörse des FIF) د یوه شخصي وړیا حساب او د دندې غوښتنلیک جوړولو له لارې د پام وړ او جالبه دندې موندلی شئ. د دندو ایالتي اداري د دندو انلاین بورډ (Jobbörse der Bundesagentur für Arbeit) تاسو ته د سیمه ییزو او له سیمې وتلو کاري فرصتونو د دندو یو بشپړ لست درکوي.

پر انلاین فورم یا پاڼې workeer، کډوال کولی شي په ډېرو سکتورنو او په مختلفو سیمو کې د ندو مشخص وړاندیزونه ومني. په دې ترتیب تاسو کولی شئ چې په کار ګومارونکي اداري په اسانۍ پیدا او اړیکه ورسره ونیسئ. په ټول هېواد کې د روزنې او دندو د بورډ له لارې هم کولی شئ سیمه ییز روزنیز مرکزونه پیدا کړئ.

## د دیوه کارکونکي په توګه ستاسو حقونه

د جرمني د کار په باراز کې تاسو د خراب کار او تیټ معاش پر وړاندې د شته قوانینو له مخې خوندي یاست.

۱) د **دندې لیکلی قرارداد** ستاسو حقونه او مسولیتونه په ګوته کوي (د کارونو لست، پیسې، امتحاني دوره، د کار ساعتونه او د کار ځای، معاش، رخصتی، وغیره). په هر صورت کې، باید خپل قرارداد په لیکلې او اصلي بڼه لاسته راوړئ چې تاسو او ستاسو د دفتر مسول امضا کړی وي).

۲) په جرمني کې د ورځې اته ساعته کار په قانوني ډول پلی دی. **په اوونۍ کې کاري ساعتونه** د کار د قراردادونو له مخې قانوني بڼه لري او په عمومي ډول له ۴۰ ساعتونو ډېر نه وي. په ځینو مسلکونو کې په دې تړاو توپیرونه شته. د شپې، یکشنبې او رخصتیو کار پیسې اضافي او ښې دي.

۳) په ټوله ایالتي سیمه کې، د هر ساعت کار په بدل کې **لږترلږه ۸،۵ یورو قانوني او په ټولو یو شان** د پلي کېدو وړ دی۱. هر کارکونکی د دغه معاش حق لري. له قرارداد لاسلیکولو مخکې پوښتنه وکړئ چې د کارګرو ټرون هم شته که نه یا له اړوند دفتر سره د معاش د زیاتوالي په اړه د بحث امکان شته که نه.

٤) که تاسو کار کوئ، نو د ټولنیز خوندیتوب حق لرئ، چې د **ټولنیزې بیمې** (Sozialversicherung) په نامه یادېږي. له دې سره، تاسو د سترو ګوابښونو پر وړاندې خوندي یاست، د مثال په ډول، ناروغي، ټکرونه یا بې روزګاري. د ټولنیزې بیمې لګښت تر ځایه ستاسو له عایده اخیستل کېږي. فیس یې هره میاشت ستاسو له معاشه ګرځول کېږي. د **روغتیا قانوني بیمه** (gesetzliche Krankenversicherung) یوه استثنا ده. تاسو د روغتیا بیمه په خپله خوښه انتخابولی شئ، فیس یا لګښت یې په انفرادي توګه محاسبه کېږي او دا هم ستاسو له میاشتني معاشه ګرځول کېږي.





## د کار او روزنې بازار ته لاسرسی، په لنډ ډول

### د هرکلي له لومړني مرکزه له وتلو سملاسي وروسته / ښاروالی ته رسېدل

- مسلکي روزنه
- مسلکي روزنې ته چمتووالی
- ایالتي رضاکاره خدمتونه
- په انټرنشپ / مسلکي روزنه یا د پوهنتون په زده کړو کې ملتیا
- د لومړنۍ کچې مسلکي وړتیاو لپاره مسلکي روزنه

**د بهرنیانو د ثبت دفتر اجازه ضرور ده**

**د مسلکي روزنې موده: په موقتي ډول محدوده (تر ټولو ډېره موده)**

---

- د وړتیاو د اروزنې مسلکي روزنه
- په ټولګیو کې ناسته او ګډون
- رضاکاره (په خپله خوښه) کار

**د بهرنیانو د ثبت دفتر اجازه ضرور ده**

### له دریو میاشتو وروسته او په ښاروالۍ کې استوګنه

- د ګټې دنده (دنده چې معاش ولري)، د جرمني د پوهنتون سند
- د ګټې دنده، د بهرني یا خارجي پوهنتون سند
- د ګټې دنده د مدیر په توګه
- د ګټې دنده په سایینس، څېړنې او پراختیا کې
- کومه بله دنده
- موقتي دنده

**د بهرنیانو د ثبت دفتر اجازه اړینه ده**

**د لومړیتوب سند / یا د لومړیتوب د سند نشتوالي پخاطر د دندو ایالتي اداري منظوري**

**نیله کارت یا د جرمني پوهنتون سند اړین دی**

### له ۱۵ میاشتو وروسته

- کومه بله دنده
- مسلکي روزنه چې د دندې موده یې اوږده وي
- موقتي دنده

### له ۴۸ میاشتو وروسته

- اقدامونه چې د دندو اداري له خوا تمویلېږي
- د مسلکي روزنې د چمتووالي اقدام „د مرستې پر اساس رونه“ (assistierte Ausbildung)

**د بهرنیانو د ثبت دفتر اجازه اړینه ده**

# شپږم فصل – روغتيايي پاملرنه او د ژوند په مشخصو حالتونو کې مرسته

*کله چې تاسو يوې ځانګړې ښاروالۍ ته معرفي او هلته ځای پر ځای شوئ، دغه ښاروالۍ ستاسو روغتيايي، د غاښونو درملنې او نور عرضو برابرولو مسوليت په غاړه اخلي.*
*په اصولي ډول دا ډاډ شته چې ستاسو روغتيايي ضرورتونه به پوره کېږي. تاسو به مختلفې ګټې لاسته راوړئ او دا ګټې دې پورې اړه لري چې تاسو منل شوي ياست يا لا هم د پناه غوښتنې په بهير کې ياست.*
*په دې فصل کې به ومومئ چې ښاروالۍ ته له رسېدو وروسته، د ډاکټر کلينک ته د تلو پر مهال بايد کومو خبرو ته پام وکړئ، په زکسوني–انالټ کې د هغو خلکو درملنه څرنګه کېږي چې روغتيايي بيمه نه لري او په ببرنيو حالتونو کې مو ځوک مرسته کوي.*

## روغتيايي پاملرنه

که تاسو د SGB له مخې ومنل شوئ يا مو ګټې لاسته راوړې، تاسو کولی شئ يوه قانوني روغتيايي بيمه کې ګډون وکړئ. له دې سره تاسو د روغتيايي ضرورتونو د وسايلو او اسانتياوو بشپړې ګټې لاسته راوړئ.

که تاسو يو پناه غوښتونکي ياست، ستاسو روغتيايي پاملرنه او خدمتونه د پناه غوښتونکو د ګټو قانون (AsylbLG) له مخې برابرېږي. ستاسو **روغتيايي پاملرنه او خدمتونه تل د قانوني روغتيايي بيمې** (GKV) په کچه وي. خو، ځينې محدوديتونه لري.

- **روغتيايي مرستې او پاملرنه سخته دردونو او ناروغيو** ته محدوده ده. عموما د دوامداره ناروغيو درملنه نه کېږي. پناه غوښتونکي تل مهمې ګټې لاسته راوړي لکه ماشومانو لپاره ټول واکسينونونه.
- د **غاښونو مصنوعي وسايل** يوازې هغه مهال ورکول کېږي چې په انفرادي قضيو کې يې د روغتيايي دلايلو پر اساس ځنډول ممکن نه وي.

د استوګنې له ۱۵مې مياشتې وروسته، تاسو د قانوني روغتيايي بيمې د بشپړو ګټو مستحق ياست.





**ميندواره ښځې او هغه ښځې چې له ماشوم سره بستري دي** (د ماشوم له زېږېدنې تر اتو اوونيو) له قابلو او ډاکټرانو څخه بشپړې روغتيايي او نرسي مرستې لاسته راوړي. د نوي ماشوم له زېږېدنې لا وړاندې، تاسو د لومړنيو مرستو لپاره د ټولنيزو عامه ګټو دفتر ته غوښتنليک سپارلی شئ.

◀ تاسو د کډوالو لپاره د روغتيايي بيمې او ځانګړو قوانينو په اړه نور مالومات (په جرمني او انګريزي ژبو) له دې ځايه لاسته راوړلی شئ.

## د درملنې سند (Behandlungsschein)

که تاسو له وړاندې په يوې ښاروالۍ کې اوسېږئ، ښاروالۍ ستاسو د روغتيايي خدمتونو او پاملرنې مسوليت لري. يوه ډاکټر ته د تلو لپاره (د خپل يا د خپلو ماشومانو د درملنې پخاطر)، تاسو يوه **جواز يا د درملنې سند** (Berechtigungs- oder Behandlungsschein) ته اړتيا لري. د دغه سند لاسته راوړلو لپاره تاسو بايد خپل اړوندو د ټولنيزو عامه ګټو دفتر ته غوښتنليک وسپارئ. تاسو بايد دغه سند له ځانه سره ولرئ او ډاکټر ته يې ښکاره کړئ، ځکه د ډاکټر د معاينې په تړاو ګټې په همدغه سند کې ليکل شوي وي.

**ډېر کله، د درملنې سندونه دريو مياشتو صادرېږي. تل د درملنې پر خپل سند د اعتبار تاريخ په نظر کې ونيسئ.**

## له ډاکټر سره خبرې او محاوره

په ژبه کې ستونزې ښايي د ناروغۍ درملنه وځنډوي يا يې پېچلې کړي. خو ډاکټر يا د غاښونو ډاکټر د **ناروغانو د حقونو قانون** (Patientenrechtegesetz) له مخې اړ دی چې تاسو ته د درملنې د ډول او اندازې په اړه واضحه مالومات درکړي.
ډېر روغتيايي دفترونه په خو ژبو چمتو شوي مالوماتي پاڼې لري – دغه پاڼې وغواړئ. که ډاډه نه ياست، نو د درملنې پر مهال له ځانه سره يو ژباړونکی وساتئ.

**که تاسو په خپل چاپېريال کې د داسې ډاکټر يا اروا‌پوه په لټه کې ياست چې پر بهرنيو ژبو وپوهېږي نو د ډاکټرانو د قانوني روغتيايي بيمې د ټولنې (Kassenärztliche Vereinigung) له انلاين لټونه (Online-Suchformular) کار واخلئ. تاسو په زکسوني–انالټ کې د ډاکټرانو او د هغوی د اړوند تخصص په اړه مالومات له دې ځايه مونډلی شئ.**

**مشوره:** له ډاکټر سره د مرکې او خبرو لپاره له روغتيايي ډکشنرۍ (medizinischen Sprachführer) څخه کار واخلئ (چې په جرمني، عربي او فارسي ژبو چمتو شوي).
◀

## وړیا روغتیايي مرستې: MediNetz Magdeburg

Medinetz میډینیټس د کډوالو لپاره چې د استوګنې اسناد لري او که نه، د طب د ژمنو محصلینو او ډاکټرانو یو پروګرام دی. په هال او مګډیبرګ کې Medinetz میډینیټس کډوالو او مهاجرو ته روغتیايي مرستې رسوي پرته له دې چې د هغوی د روغتیايي بیمې موقف په پام کې ونیسي. دغو خدمتونو ته ځان معرفي کول یا مشورې اخیستل وړیا او محرم دي.
د ټولې اوونۍ د مشورو په اوږدو کې، له هغو ډاکټرانو سره اړینه لیدژمنه ټاکل کیږي، چې هوکړه پې کړې درملنه به په ارازنه او محرمه توګه ترسره کوي. په خپله سیمه کې د ډاکټر د لیدو محدود وخت په اړه پوښتنه وکړئ.

## د هغو کسانو لپاره مرستې چې د اورېدو یا نظر ستونزې لري

که تاسو د اورېدو یا نظر ستونزې لرئ، نو زکسوني_انالټ کې د مشورو ځانګړو مرکزونو او ټولنو سره اړیکه نیولی شئ. که د اورېدو یا لیدو تکلیف لرئ او مرسته غواړئ نو په زکسوني_انالټ کې د مشورو له یوه مرکز (Sinnesberatungsstellen) سره اړیکه ونیسئ.

## هغو ښځینه کډوالو لپاره مرستې چې میندواره دي

په زکسوني_انالټ کې، تاسو په ډېرو سیمو کې د میندوارۍ د مشورو له مرکزونو سره اړیکه نیولی شئ. د مشورو په ځایي مرکزونو کې تاسو د میندوارۍ او ماشوم زېږېدنې په ټراو د خپلو ټولو پوښتنو په اړه ځانګړې او تخصصي مشورې او بشپړې مرستې لاسته راوړلی شئ.

که پوښتنې مو ډېرې بېرنۍ او عاجلې وي، **لطفا د د میندوارۍ ښځې چې مرستې ته اړتیا لري شمېرې ته** (Hilfetelefon Schwangere in Not): **۰۸۰۰ ۴۰۴۰ ۰۲۰** ته زنګ ووهئ. دغه د مرستې شمېره تل چالانه او وړیا ده.

تاسو د مرستې د دغو شمېرو **انلاین مرستې هم** کارولی شئ. د محرمانه برېښنالیک یا ایمیلي مشورو او د ځانګړو خبرو یا چټ مشورو (چې باید لیدژمنه ولري) لپاره دغه ځای وګورئ.

که تاسو **مخامخ په ساحه کې شخصي مشورې** غواړئ، دلته (د پوستې کوډ پر بنسټ یې ولټوئ) د میندوارئ مشورو تر ټولو نږدې مرکز مونډلی شئ.





## بېړني حالتونه – هغه مالومات چې د خپل شخصي خوندیتابه لپاره یې باید په یاد ولرئ

د **روغتیا سخت بېړني حالتونه هغه** ناروغۍ او ټپونه دي **چې سملاسي روغتیايي درملنې** ته اړتیا لري. دغو ته ژوند ګواښونکی حالت هم ویل کیږي. سخت بېړني حالتونه د مثال په ډول:

- ټپونه چې ډېره وینه په کې بهېږي یا هډونه په کې
- مات وي
- تنفسي ستونزې
- د زړه تکلیف
- د خوړو له کبله زهرجن کېدل
- په سخت ډول په اور سوځېدل
- بې هوښي



په زکسوني_انالټ کې، د بېړنیو حالتو لپاره د وسایلو رسولو لپاره په کافي اندازه فعاله شبکه موجوده ده. د **ژوند په ګواښونکو حالتونو کې**، اړوند تمویلونکی د بېړنۍ درملنې مسولیت په غاړه اخلي.

**یوازې که کوم سخت بېړنی حالت په مخ کې وي، نو تاسو په روغتون کې په لنډ احوال او خبر د درملنې حق لرئ. بېړنۍ شمېرې ۱۱۰ او ۱۱۲ یوازې د ژوند ګواښونکو بېړنیو حالتونو لپاره دي! دغو شمېرو ته یوازې د ورته بېړني حالت په صورت کې زنګ ووهئ. په روغتونونو کې بېړنۍ خونې هم یوازې د روغتیايي بېړنیو حالتونو لپاره دي.**

## د اروا‌پوهنې او روحي تکلیفونو مرکزونه

هغه کډوال چې روحي ستونزې لري، په هال او مګډیبرګ کې د اروا‌پوهنې او روحي تکلیفونو خدمتونو (Psychosozialen Dienst) او د اروا‌پوهنې مرکزونو (Psychosozialen Zentren) له لورې ورسره مرسته کیږي.
په شخصي مرکه کې، ستاسو کلتوري شامځکه یا بک ګراونډ په نظر کې نیول کیږي، او، د یوه اصل په توګه، په ګډو ژبو د خبرو امکانات شته. د دغو مرکزونو کارکونکي د نورو خدمتونو تر څنګ لاندې خدمتونه برابروي:

- وړیا روحي مشورې او روحي درملنه یا تیراپي
- ټولنیزې مشورې
- د اروا‌پوهنې او روحي ستونزو حل ډلو کې د ګډون فرصت

که لازمه وي، په هال او مګډیبرګ کې د اروا‌پوهنې او روحي تکلیفونو له مرکزونو سره د لیدو نېټه یا لیدژمنه وټاکئ.

**وړیا او په څو ژبو چمتو شوی اپ „RefuShe“ په ټولنه کې د ښځینه کډوالو له یوځای کېدو سره مرسته کوي. دغه اپ د بنسټیزو حقونو په اړه مالومات وړاندې کوي، د تاوتریخوالي او ببړنیو حالتونو په صورت کې د شمېرو امکانات برابروي.**

## د جنسیت پر اساس د تبعیض پر وړاندې مرسته

په جرمني کې لاندې اصول د پلي کېدو وړ دي: نارینه همجنسګرا یا کې او ښځه همجنسګرا یا لیسبین، نر ښځه او د جنس مخالف تمایل لرونکي یا ټرانسجینډر له تبعیض خوندي ساتل کېږي او حق لري چې خپل د خوښې جنسیت سره ژوند وکړي.
د دغو کسانو لپاره په مګډیبرګ هال او هالبرسټډ کې، د مشورو لاسته راوړلو ځانګړې اړیکې شته (Anlaufstellen zur Beratung). د زکسوني–انالټ په سترو ښارونو کې، نارینه او ښځینه همجنسګرا خپلې ډلې، ټولنې او پروګرامونه لري. د ایډز ځایي مرستې (AIDS-Hilfen) هم د جنسیت په ټراو ستونزو لپاره د اړیکو ښه سرچینه ده.

## له تاوتریخوالي ډکو بریدونو وروسته مرسته

که تاسو د محافظه کاره تاوتریخوالي قرباني یاست، د زکسوني–انالټ په ډېرو سیمو کې د مشورو ځانګړې مرکزونه پیدا کولی شئ – **د قربانیانو لپاره ګرځنده مشورې** (Mobile Opferberatung) تاسو ته به په مستقیم ډول مشورې درکړل شي (په ګټو ژبو) او په عملي ډول به درسره مرسته وشي تر څو تاسو خپل حقونه لاسته راوړئ.
د قربانیانو ګرځنده مشورې تاسو سره مرسته کوي چې د یوه قرباني په توګه خپل حقونه لاسته راوړئ، د مثال په ډول د ټپونو د تاوان لاسته راوړلو دعوه او ادعاګې. ادارو ته په تلو کې ښایي ستاسو ملتیا وشي او مشورې درکړل شي، د مثال په ډول، د یو وکیل د فیس یا پیسو په ورکولو کې.

◀ په ټول هېواد کې د سختو ببړنیو او بحراني حالتونو لپاره د اړیکې نقطه سپینه ګوته (Weisser Ring) ده.

## د هغو ښځینه کډوالو لپاره مشخصه ساتنه چې د تاوتریخوالي له ګوابښ سره مخامخ دي

*د جرمني قانون پر بنسټ، ښځې او سړي سره برابر دي. هر یو کس له تاوتریخوالي او ظلم زیاتي پرته د ژوند حق لري. ټول هغه خلک چې جرمني کې اوسېږي باید دغه قانون پر ځان پلی کړي.* د جنس پر اساس د تبعیض د یوه قرباني په توګه، تاسو له ځانه دفاع کولی او قانوني خوندیتوب لاسته راوړلی شئ.

په زکسوني–انالټ او جرمني کې د هغو ښځو لپاره مرستې شته چې د ښځو د قاچاق، اجباري ودونو یا د عزت سره تړلو تاوتریخوالي له کبله په سختو شرایطو کې وي. هغه ښځې چې په فحشا یا بدن خرڅونې کې بې کار کړی یا لا هم کار کوي، ته هم مشورې او مرستې ورکول کېږي.

که تاسو په یوه **اجباري واده** کې ژوند کوئ یا د „له منځه تللي عزت“ له کبله د **تاوتریخوالي قرباني** یاست، کولی شئ په مګډیبرګ کې د ځانګړې اداري ویرا (Fachstelle VERA) له خدمتونو کار واخلئ. دلته، د مثال په ډول، تاسو د ارواپوهنې او روحي تکلیفونو په ټراو یا د خوندي استوګنې په لټون کې مرستې لاسته راوړلی شئ.

د زکسوني–انالټ په ډېرو سیمو کې د ښځو پناه ځایونه د خوندیتابه خدمتونه لري. که لازمه وي، تاسو په کاونټیو او ښاري ولسوالیو کې د برابرو فرصتونو له افسرانو (Gleichstellungsbeauftragten) سره هم اړیکه نیولی شئ. د ټولو یوازې ښځینه کډوالو او د هغوی ماشومانو لپاره چې د تاوتریخوالي قرباني شوي یا ځانونه په خطر کې احساسوي، په هال کې د کډوالو ښځو د امن کور شته. FlüchtlingsFrauenHaus

◀ لطفا په ټول هېواد کې د ښځو کورونو یا امن ځایونو (Frauenhilfehäuser) په اړه لنډو مالوماتو لپاره دا ځای وګورئ.

◀

د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالي (Gewalt gegen Frauen) د مرستې شمېره، په ټول هېواد کې د هغو ښځو لپاره د مشورو خدمت دی چې تاوتریخوالی یې لیدلی یا یې اوس تجربه کوي. د ټولو هېوادونو اتباع پر ۰۸۰۰۰ ۱۱۶ ۰۱۶ شمېرې (د چټ یا خبرو له لارې) او **انلاین مشورې** (د ایمیل له لارې) مرسته لاسته راوړي. خپلوانو، دوستانو او دغه راز مسلکي خلکو ته محرمانه او وړیا مشورې ورکول کېږي. د مشورو خدمتونه په ۱۵ ژبو وړاندې کېږي.

# اووم فصل – د ماشومانو او ځوانانو لپاره ښوونځی او تعلیم

*کله چې تاسو یوې ښارواليِ ته معرفي شوئ، ستاسو ماشومان په ورځتون (Kita) کې د ماشوم د مرستې او د ماشوم د پاملرنې قانوني حق لري. د ښوونځي د اجباري عمر ماشومان اړ دي چې یوه ښوونځي ته ولاړ شي. د مینډو او پلرونو په توګه، تاسو باید ځانونه د جرمني د ښوونځیو له سیستم سره ځان بلد کړئ تر خو وکولی شئ له خپلو ماشومانو سره په ښه ډول مرسته وکړئ. په دې فصل کې به تاسو وموميئ چې په Kita او ښوونځي کې د خپل ماشوم د نوملیکنې او ثبتولو پخاطر باید کوم مسایل په نظر کې وساتئ.*

## ورځتون (Kita)

ورځتون (Kita) په ټولنه کې د ماشومانو ټولنیز او ژبنیز یوځای والي سره او دغه راز د ماشومانو د لومړیو کلونو ودې سره مرسته کوي، د هر عمر او د هر ځای که وي. کډوال ماشومان له یو کلنۍ څخه یو شان قانوني حق لري چې په یوه ورځتون کې ځای پیدا کړي.
تاسو باید په ورځتون کې د ځای پیدا کولو لپاره خپله هڅه وکړئ. ستاسو د اړیکې مستقیمه نقطه د ځوانانو د عامه ګټو دفتر دی. د ثبت او نوملیکنې بهیر د لازمو ګامونو په اړه د مالوماتو لپاره لطفا د ټولنیزو عامه ګټو له خپل ځایي دفتر سره اړیکه ونیسئ. لطفا په یاد ولرئ: په ورځتون کې د ځای پیدا کولو لپاره عموما د انتظار موده اوږده وي. که تاسو د خپلې دندې پر مخ وړلو پخاطر د خپل ماشوم پاملرنې ته اړتیا لرئ نو بیا عموما ژر ځای پیدا کولی شئ.

**ورځتون لګښتونه لري. تاسو کولی شئ غوښتنلیک وسپارئ چې دغه لګښتونه ښارواليِ په ځان ومني. د دې لپاره لطفا د ټولنیزو عامه ګټو ځایي دفتر سره اړیکه ونیسئ.**
**په زکسوني–انالټ کې، د هرکلي ۲۰ ورځتونونه شته (WillkommensKITAs) چې پام یې د کډوالو ماشومانو پاملرنې ته دی. دلته یې پوښتنه وکړئ چې تاسو کولی شئ په کې دغه ډول د ماشوم د پاملرنې د ورځې مرکز پیدا کړئ.**

## د کوچنیانو لپاره د ښوونځي اجباري زده کړې

هلکان او نجونې چې شپږ کلن وي او دغه راز ځوانان په قانوني ډول اړ دي چې په زکسوني–انالټ کې یوه ښوونځي کې درس ووایي. د **ښوونځي دغه اجباري زده کړې** (gesetzliche Schulpflicht) د سرپرست لرونکو او بې سرپرسته ماشومانو لپاره چې له ۱۸ کلنو ټیټ عمر ولري (کوچنیان یا ماینرز) هم لازم دی. دا زده کړې د کډوالو ماشومانو لپاره هم اړینې دی کله چې هغوی ښارواليِ ته ورسیږي. د تعلیم حق له همدې سره تړلی دی. دا ډاډ ترلاسه کړئ چې ماشوم مو دغه حق ژر لاسته راوړي.

**د هرکلي له لومړي مرکز نه له وتلو وروسته، دا د والدینو په توګه ستاسو مسولیت دی چې ستاسو ماشوم هره ورځ ښوونځي ته ولاړ شي. که ستاسو ماشوم ناروغ دی، نو تاسو باید ژرترژره ښوونځي ته خبر ورکړئ. که ستاسو ماشوم ښوونځي ته ولاړ نه شي، دا ښایي تاسو ته د مالي جریمې سبب شي.**





## په زکسوني–انالټ کې د ښوونځیو سیستم

لومړی، ټول ماشومان تر څلورو کلونو **(له لومړي تر څلورم ټولګي) ابتدایه ښوونځي** (Grundschule) کې درس وایي.
له ابتدایه ښوونځي وروسته،، په زکسوني–انالټ کې ماشومان او ځوانان کولی شي د ښوونځي د څلورو مختلفو ډولونو په منځ کې انتخاب وکړي، چې دا پرېکړه د دوی مسلکي موخو او ورتیاو پورې اړه لري. دا ممکنه ده چې د لیسې په کچه ښوونځي په وروسته مرحلو کې بدل شي.

۱) عالي لیسه: **دلته، ستاسو ماشوم کولی شي د عالي لیسې په کچه زده کړې ترلاسه کړي** (Hauptschulabschluss) یا د دولسم ټولګي شهادت نامه (Realschulabschluss)، د مثال په ډول **چې دوه ګونې مسلکي روزنه** پیل کړي یا یو مسلک زده کړي **(له پنځم ټولګي تر لسم ټولګي)**.
۲) علمي لیسه (جیمانیزیم): **دلته، ستاسو ماشوم کولی شي د عامه عالي تحصیلاتو د داخلې ورتیاوې** (Abitur) لاسته راوړي، د مثال په ډول چې وکولی شي وروسته په کالج یا پوهنتون کې زده کړې ترسره کړي **(پنځم تر دولسم ټولګي)**.
۳) بشپړ ښوونځی (Gesamtschule): **دلته، ستاسو ماشوم د لیسې په کچه زده کړې لاسته راوړلی شي** (Hauptschulabschluss)، د دولسم ټولګي شهادت نامه (Realschulabschluss) یا د عامه عالي تحصیلاتو د داخلې ورتیاوې او زده کړې ترلاسه کړي **(پنځم تر دولسم یا دیارلسم ټولګي)**.
٤) عام ښوونځی (Gemeinschaftsschule): **دلته، ستاسو ماشوم د ښوونځي ټولې زده کړې لاسته راوړلی شي، د** Abitur په ګډون **(پنځم تر دولسم یا دیارلسم ټولګي)**.
۵) د ځانګړو اړتیاوو ښوونځی (Förderschule): **دلته، ستاسو ماشوم چې د تعلیم ځانګړې اړتیاوې لري (لکه معلولیت) کولی شي د ځانګړو اړتیاوو د ښوونځي زده کړې** (Förderschulabschluss) یا د دولسم ټولګي زده کړې (Hauptschulabschluss) لاسته راوړي **(له لومړي ټولګي تر لسم ټولګي)**.

**لطفا د ښوونځي تعلیم، ورځتون (Kita) او له ښوونځي وروسته مرکز (Hort)، په اړه د هر ډول مالوماتو لپاره، په ځانګړي ډول د کډوالو او مهاجرینو په تړاو، د** Servicestelle Interkulturelles Lernen **وېبپاڼه وګورئ.**

## ښوونځي کې د خپل ماشوم نوملیکنه

ښاروالي ته له رسېدو او د بهرنیانو د راجستر دفتر(Ausländerbehörde) یا د اوسېدونکو د راجستر ځایي دفتر (Einwohnermeldeamt) کې له ثبتېدو سملاسي وروسته، تاسو باید په یوه ښوونځي کې او له ښوونځي وروسته د پاملرنې مرکز (Hort) کې د خپل ماشوم نوملیکنه وکړئ. په زکسوني–انالټ کې د ښوونځي د نوملیکنې پخاطر ستاسو د اړیکې نقطه د تعلیم ایالتي اداره (Landesschulamt) ده. لطفا په یاد ولرئ: ستاسو ماشومان چې د تعلیم اجباري عمر ته رسېدلي، باید **په ښوونځي کې د نوملیکنې له کار مخکې** په Landesschulamt کې د مارچ په لومړۍ نېټه ثبت شي. که تاسو په خپله ښاروالۍ کې له دغې نېټې وروسته راغلي یاست، لطفا د تعلیم له اداري سره اړیکه ونیسئ.
مخکې له دې چې د ښوونځي درسونه پیل شي، یو روغتیایي ازموینه اخیستل کېږي. دغه ازموینه د قانون له مخې اړینه ده. تاسو ته به د روغتیا دفتر له خوا د ازموینو د نېټې په اړه خبر درکړل شي.

**غواړئ چې ځان وپوهوئ په ابتدایه لیسه کې د ښوونځي ورځني سیستم څه ډول دی، د والدینو او ښوونکو کنفرانسونه او د ښوونځي سفرونه څه ډول وي؟ نو ځان د دغې مجلې په لوستلو وپوهوئ (په جرمني، انګریزي، فرانسوي او عربي ژبو) .**

## د تعلیم او ګډون ګټې او منفعتونه – Bildungspaket

په ښوونځي کې د غرمې ډوډۍ یا د ښوونځي وسایل لګښت لري. په ځینو مشخصو حالتونو کې، تاسو ښایي خپل له عمر کم ماشوم لپاره مالي مرستې لاسته راوړئ. دغې مرستې ته د تعلیم او ګډون ګټې یا منفعتونه (Leistungen für Bildung und Teilhabe) ویل کېږي، په لنډ ډول Bildungspaket.
که غواړئ دغه مرستې لاسته راوړئ، لطفا د ټولنیزو عامه ګټو له اړوند دفتر سره یا له هغه دفتر سره چې لا له وړاندې تاسو سره مرستې کوي، اړیکه ونیسي.

**په زکسوني–انالټ کې د ښوونځیو او تعلیم په اړه تر ټولو مهمو پوښتنو ځوابونه له والدینو لاسته راوړئ، چې ستاسو ماشوم لپاره د ښوونځي د نوملیکنې یا داخلې (Schulanfang)، د ښوونځي مضامینو (Schulfächer)، ښوونځي لپاره د چمتووالي (Schulvorbereitung)، له ښوونځي وروسته مرکز (Hort)، د څار وظیفې (Aufsichtspflicht)، او د والدینو د مناسبو مرستو او همکارۍ (Elternhilfe) په اړه په ګڼو ژبو مهم مالومات لري، „Eltern-Information Schule“.**



# اتم فصل – په جرمني کې ژوند کول

## دېموکراسي او بشري حقونه: زمونږ د ګډو ژوند اصلونه

تاسو په جرمني کې د کډوال په توګه پناه او خوندیتوب غواړئ. زمونږ هېواد د سیاسي ځورونې او شکنجې پر وړاندې او له جګړې او کورنۍ جګړې پناه ډاډمنوي. دغه پناه زمونږ د دېموکراتیک اساسي قانون امر دی. دغه امر کې بنسټیز او بشري حقونه چې زمونږ د ټولنې اساس جوړوي شامل دي.

په جرمني کې د خلکو حقونه د جرمني د ۱۹۴۹ کال اساسي قانون، د ملګرو ملتونو د ۱۹۴۸ کال د بشري حقونو نړیواله اعلامیه او د اروپایي ټولنې د ۲۰۰۰ کال د بنسټیزو حقونو چوکاټ کې خوندي شوي دي. د ماشومانو حقونه د ۱۹۸۹ کال د ماشوم حق په اړه د ملګرو ملتونو په قرارداد کې خوندي شوي دي.

- جرمني یو دېموکراتیک جمهوریت دی. د حکومت مشر، پارلمان او دغه راز حکومت په دېموکراتیکه توګه ټاکل کېږي، د ۱۶ ایالتونو د پارلمانانو او حکومتونو او د ښاروالیو خپلو حکومتونو لپاره هم همدا سیستم دی. ټولې ټاکنې د محرمو صندقونو له لارې ترسره کېږي.

- هر یو شخص حق لري چې خپل نظر څرګند کړي، چې د خپل نظر لپاره نور ټول کړي او خپل نظر ظاهر کړي. ټول خلک حق لري چې دېموکراتیک ګوندونه، اتحادیې او نور ټولنې جوړې کړي.

- په جرمني کې ډېر خلک د کلتوري یا سپورتي لېوالتیاو لپاره په ټولنو او پروګرامونو کې ګډون کوي چې په ټولنه کې ډېر کارونه ترسره کوي.

- د قانون پر وړاندې ټول خلک برابر دي. حکومت او چارواکي اساسي قانون او نورو قوانینو ته ځواب ورکوونکي دي. هغه خلک چې حقونه یې تر پښو لاندې کېږي، ګلې شي د یوه شکایت له لارې یا په محکمه کې له خپله ځانه دفاع وکړي او باید دوه ګونی یا ناسم چلند ورسره و نشي. هغه خلک چې حکومتي مامورینو ته د بډو یا رشوت ورکولو هڅه کوي، نو په سزا به محکومېږي.

- ټول سړي او ښځې برابر حقونه لري. دا حقونه د یو شخص ورځني ژوند سیستم یا ستایل، د کار حق او په خپله خوښه د مسلک انتخاب او دغه راز له خپل عاید څخه ګټې اخیستلو ته هم غځېږي. په جرمني کې ښځې په ټولو مسلکونو کې کار کوي، ان د مشرۍ په څوکیو.

- ماشومان حق لري چې والدین یې له تاوتریخوالي پرته را لوی کړي، په ګډ‌ون‌والي تعلیم وکړي او رسمي زده کړې ترسره کړي. د ماشومانو د تعلیم په تړاو پلرونه او میندې یو برابر دي. میندې او پلرونه ګډ‌ون‌والي د ورځې له خوا د پاملرنې مرکزونو او ښوونځیو کې د والدینو د استازیتوب له پلوه مهم رول ولوبوي.

## په جرمني کې د ورځنۍ ژوند په اړه نور مالومات لاسته راوړل او ورځنۍ ژوند په ښه ډول پر مخ وړل

په جرمنی کې ټولنیز ګډو ژوند د **بنسټیز قانون** (Grundgesetz) له مخې اداره کیږي. د جرمني د فدرالي جمهوریت د بنسټیز قانون په ځانګړي ډول مهمې مادې یا خبرې (Grundgesetz für die Bundesrepublik Deutschland) له دې ځایه موندلی شئ.

لطفا د وړیا او په ګډو ژبو چمتو شوي لارښود Arriving څخه ګټه واخلئ. په جرمني کې د ژوند کولو او ځان بلدولو لارښود (Ankommen. Eine Orientierungshilfe für das Leben in Deutschland) چې په جرمني کې د ژوند په اړه لا نور مالومات لاسته راوړئ او خرنګه کولی شئ د خپل ژوند په نوي چاپیریال کې د ځینو مشخصو حالتونو لپاره ځان په ښه ډول چمتو کړئ.
په جرمني کې ستاسو د ژوند لپاره مهم مالومات، د ټولنې او د قانوني او سیاسي سیستم د پوهاوي لپاره تاسو په ګډو ژبو چمتو شوی لارښود جرمني ته ښه راغلاست هم کارولی شئ. د ایالتي دفتر، د کډوالو لپاره مالومات (Willkommen in Deutschland. Informationen für Zuwanderer) .
تاسو په جرمني کې د ژوند د اصلونو په اړه مهم مالومات د **جرمني** Germany په کتاب کې موندلی شئ. **د کډوالو لپاره لومړني مالومات** (Deutschland. Erste Informationen für Flüchtlinge), چې په عربي او جرمني ژبو لیکل شوی دی.

## په سیمه کې د ژمنتیا له لارې ګډ ژوند ته وده ورکول

ډیموکراسي په دې ژوندی ده چې خلک خپلو لېوالتیاو او دلچسپیو کې ګډون وکړي او ورته ژمن پاتې شي. دغه شونتیا په اصولي ډول د کډوالو لپاره هم شته. په ځانګړي ډول، ډېر کلبونه به خوشاله شي که تاسو په کې دلچسپي ښکاره کړئ او ګډون په کې وکړئ. ډېرو کډوالو خپله داسې اداري پیدا کړي چې په جرمني کې د سوله ییز ګډ ژوند او یووالي کې مهمه ونډه لوبوي.

د خپلو وطنوالو او نویو راغلو سره په نوي چاپیریال کې د ژوند برابرولو په برخه کې له مختلفو لارو مرسته کېدای شي. د رضاکارانو په ځایي ادارو کې (Freiwilligenagenturen) د مرستو مناسب وړاندیزونه د همکاری مستقیمې پروژې وړاندې کوي.

د زکسوني–انالټ په ځینو سیمو کې د کډوالو لپاره بورسونه شته چې د راتلو بورسونو (Ankommenspatenschaften). په نامه یادېږي. له دغو بورسونو سره، تاسو له نورو کډوالو سره مرسته کولی شئ چې ښار کې بلد شي او ورځنۍ ژوند یې ساده یا اسان شي. د دې کار لپاره پر جرمن ژبه پوهېدل مهم دي. د نوي راغلي شخص د مرستې لپاره، په ساده ډول له ځایي رضاکاره اداري (Freiwilligen-Agentur) سره اړیکه ونیسئ.





- ټول خلک په درناوي د خبرو او محاورو حق لري. د فزیکي تاوتریخوالي کارول منع دي. هر شخص د خپل جنسیت او جنسي اړیکو په اړه د پرېکړې حق لري. په دې تړاو هر راز سرغړونه سزا لري.

- هر شخص حق لري چې په ازاده توګه خپل مذهب تعقیب او عملي کړي. په جرمني کې د ډېر خلک عیسویان دي، پروتیستانتان یا کاتولیکان، او دلته ډېرې رخصتې او دودونه د عیسویت له مذهبه اخیستل شوي دي. د دې ترڅنګ د جرمني په کلتور کې یهودان هم مهم رول لوبوي. نن سبا، په جرمني کې ډېر مسلمانان هم اوسېږي. ترڅنګ یې، د نورو مذاهبو ټولنې او ډېر داسې خلک هم شته چې کوم مذهب نه تعقیبوي. له هیڅا سره د هغه یا د هغې د مذهب یا نظریې / ایډیالوژۍ پر بنسټ تبعیضي چلند نه شي کېدای. د نظر ازادۍ کې پر مذهبونو یا مذهبي ټولنو د نیوکې حق هم شامل دی.

- د هیڅا پر ضد باید د هغه یا د هغې د هویت، د پوټکي رنګ، جنس، جنسي حالت، عمر یا معلولیت پر اساس تبعیض و نه شي. په جرمني کې همجنسګرایان د ځان پټولو ته اړ نه دي او کولی شي خپلې اوږدمهاله اړیکې لکه ودونه پر حکومت ومني یا رسمي اعتبار ورکړي.

- د ملي سوشیلیزم (۱۹۳۳ – ۱۹۴۵) موده کې د جرمني د جرمونو څېړنه په جرمني کې ډېر مهم دي. توکمپالنه او یهود ضد رویه په ټولنیز ډول منع ده. د یهودانو د ټولوژنه ردول جرم دی.

**دغه بنسټیز حقونه په درناوي او زغم له یو بل سره د خبرو بنسټ هم جوړوي.**

## ټولنیز ژوند – له خلکو سره لیدل – وړتیاوې لاسته راوړل: ایالتي رضاکاره خدمتونه (Bundesfreiwilligendienst - BFD)

د کډوال په توګه، تاسو او ستاسو ماشومان نوې اړیکې ټینګولی شي، او په زکسوني–انالټ کې د د **کډوالو په تړاو ایالتي رضاکاره خدمتونو** (Bundesfreiwilligendienst mit Flüchtlingsbezug) پروګرام کې نوې وړتیاوې لاسته راوړلی شي. BFD لږترلږه شپږ او زیات نه زیات ۱۸ میاشتې وخت نیسي. ګډون کونکي د جیب خرچې لپاره پیسې او ټولنیزه بیمه لاسته راوړي.

د BFD پام پر زده کړو او تعلیمي وړاندیزونه راغونډ دی. د ځوانانو په کلبونو، ټولنیزو مرکزونو یا نورو ټولنیزو ټولنو کې عملي تجربه ستاسو ټولنیزې اړیکې پراخوي او د هېواد په اړه ستاسو پوهاوی زیاتوي. د ښوونځي او روزنې تر منځ موده د BFD لپاره مناسب وخت دی. څه چې په ځانګړي ډول مناسب دي: تاسو پر خپلې جرمن ژبې نور کار کولی شئ.

◀ د BFD په اړه نور مالومات له دې ځایه لاسته راوړئ.

# نهم فصل – قانوني موقف او د پناه غوښتنې طرزالعمل

*په زکسوني–انالټ کې یوې ښاروالۍ ته ستاسو د معرفي کېدو او ځای پر ځای کېدو وروسته، تاسو به ډېر امکانات او شونتیاوې ولرئ چې وکولی شئ پخپله خوښه او ازاده توګه د خپل ژوند کنترول په لاس کې واخلئ. تر ټولو مهم، تاسو باید وپوهیږئ چې د کډوالۍ او مهاجرت ایالتي دفتر (BAMF یا ایالتي دفتر) پرېکړه په تفصیل څه معنا لري.*
*دغه فصل کې د پناه غوښتنې په تړاو مهمې قانوني مادې او د خوندیتابه یا ساتنې ممکنه ډولونه تشریح شوي دي. تاسو به دا په کې وموميء چې د اړیکو کومې اداري یا اشخاص د استوګنې حق مشورې ورکوي او څوک به درسره مرسته کوي او لارښونه درکوي.*

## د خوندیتابه یا ساتنې موقف او پایلې یې

ایالتي دفتر د خوندیتابه یا ساتنې څلور مختلف ډولونه پېژني:




د ایالتي دفتر پرېکړه په جرمني کې ستاسو د استوګنې جواز تعینوي. دا د زکسوني–انالټ په ښارواليو کې د نورو ورپسې پرېکړو او ستاسو له خوا د ګټو یا منفعتونو لاسته راوړلو د غوښتنو بنسټ دی. په دې کې، د مثال په ډول، د کار او روزنې بازار کې ستاسو له خوا د ګامونو یا عمل امکانات یا د ژبې د زده کړې او ټولنه کې د یوځای کېدو کورسونه شامل دي.

**د BAMF د پرېکړې د خورا ډېر ارزښت له کبله، د پناه غوښتنې د عارض په توګه د خوندیتابه یا ساتنې د څلورو مختلفو ډولونو څخه د یوه حق لاسته راوړلو بهیر په لاندې ډول تشریح شوی دی:**

- **لومړی ډول:** دا د جرمني د بنسټیز قانون د a۱۶ مادې د لومړي پراګراف پر بنسټ د **پناه غوښتنې د حق منل کېدو** په معنا دی. تاسو د استوګنې جواز د دریو کلونو لپاره لاسته راوړئ (Aufenthaltserlaubnis) او د جرمن پاسپورټ پر ځای کارېدونکی سند (د سفر سند). که نور شرایط مو بشپړ وي، تاسو له دریو کلونو وروسته د پاتې کېدو جواز (Niederlassungserlaubnis) لپاره غوښتنلیک سپارلی شئ.
- **دوهم ډول:** د جینیوا د کډوالو قانون پر بنسټ دا د کډوال په توګه د منل کېدو په معنا دی. تاسو تر دریو کلونو پورې د استوګنې جواز لاسته راوړئ (Aufenthaltserlaubnis) او د جرمن پاسپورټ پر ځای کارېدونکی سند (د سفر سند). که نور شرایط مو بشپړ وي، تاسو له دریو کلونو وروسته د پاتې کېدو سند لپاره غوښتنلیک سپارلی شئ.
- **دریم ډول:** دا د ضمني خوندیتوب یا ساتنې په معنا دی (د پناه غوښتنې قانون د څلورمې برخې د لومړۍ مادې پر بنسټ). تاسو تر یوه کاله پورې د استوګنې جواز لاسته راوړئ، چې تر دوو نورو کلونو پورې غځېدلی یا تمدیدېدلی شي. تاسو له پنځو کلونو وروسته د پاتې کېدو سند (Niederlassungserlaubnis) لاسته راوړلو لپاره غوښتنلیک سپارلی شئ.
- **څلورم ډول:** دا په دې معنا چې **پر تبعید ملي بندیز** لګېدلی (د استوګنې قانون د ۶۰مې برخې د پنځمې یا اوومې مادې پر اساس) او تاسو د **بشر دوستانه دلایلو پر اساس د استوګنې جواز** لاسته راوړئ چې یوه کال پورې محدود دی. تاسو له پنځو کلونو وروسته د پاتې کېدو جواز (Niederlassungserlaubnis) لاسته راوړلو لپاره غوښتنلیک سپارلی شئ.

**تاسو د ایالتي دفتر د پرېکړې بهیر د امکاناتو په اړه نور مالومات له دې ځایه مونډلی شئ. که نوري پوښتنې لرئ، نو لطفا د کرایټس د پناه غوښتنې طرزالعمل د مشورو اداري (Asylverfahrensberatung der Caritas) سره اړیکه ونیسئ.**

## د پاتې کېدو جواز (Aufenthaltsgestattung)

که ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک لا بشپړ نه وي، نو **تاسو د پاتې کېدو جواز** (Aufenthaltsgestattung) لاسته راوړئ. د پاتې کېدو له جواز سره، تاسو له دریو میاشتو وروسته په ایالتي سیمو کې په ازادنه توګه سفر کولی شئ. خو، تاسو باید له BAMF او خپل د بهرنیانو د ثبت له دفتر سره د اړیکو لپاره تل موجود و اوسئ. تاسو باید خپل د پاتې کېدو جواز تل له ځانه سره ولرئ او د تالاشئ یا هویت مالومولو چیک پر مهال یې باید پولیسو ته ښکاره کړئ.

## پخپله خوښه ستنېدل

که تاسو د پناه غوښتنې له غوښتنلیکه له لاس په سر کېدو وروسته اړ شوئ چې هېواد خوښ کړئ یا تاسو د نورو دلایلو پر بنسټ غواړئ خپل اصلي هېواد ته ستانه شي (ان که ستاسو د پناه غوښتنې طرزالعمل او بهیر لا بشپړ نه وي)، تاسو **پخپله خوښه د ستنېدو** غوراوی لرئ. د بهرنیانو د ثبت دفترونه به تاسو ته په جرمني کې د پاتې کېدو مودې ختمولو د امکاناتو په اړه مالومات او لارښونه درکړي (د ستنېدو مرکه). په مګډېبرګ کې د ستنېدو د ورټیا مرکز





(Kompetenzzentrum Rückkehr) تاسو ته فرصت درکوي چې په خپلواکه او ازادنه توګه هېواد خوښ کړئ، پرته له دې چې له چارواکو مرسته وغواړئ او په خپله خوښه نېټه تعینه کړئ. تاسو به د ستنېدو په اړه بشپړې شخصي مشورې او مالومات لاسته راوړئ. تاسو د ستنېدو د مشورو ځایي دفترونه (Rückkehrberatungsstellen) له دې ځایه مونډلی شئ.

## ورپسې یا متعاقب د کورنۍ مهاجرت (له کورنۍ سره بیا یوځای کېدل)

د **منل شوي کډوال** یا د داسې **شخص په توګه چې د پناه غوښتنې حق لري**، تاسو حق لرئ **چې ورپسې یا متعاقب د کورنۍ مهاجرت** (Familiennachzug) لپاره غوښتنلیک وسپارئ. له دې سره تاسو **په اسانه توګه** د خپلې میرمنې یا خاوند او د کوچنیو ماشومانو د متعاقب مهاجرت یا له تاسو سره د یوځای کېدو لپاره غوښتنلیک سپارلی شئ. په ښاروالۍ کې اړونده د بهرنیانو د ثبت دفتر د دغه کار مسولیت لري.

**اسانه متعاقب مهاجرت یوازې هغه مهال ممکن دی چې غوښتنلیک یې په لومړیو دریو میاشتو کې سپارلی شوی وي. د مودې ـ ساتلو په نامه غوښتنلیک (Fristwahrungsantrag) کافي دی، د مثال په ډول د بهرنیو چارو په ایالتي دفتر کې (Auswärtiges Amt) یا د بهرنیانو د ثبت په اړوند دفتر کې. ستاسو د کورنۍ د غړو له خوا جرمني ته د راتلو غوښتنلیک باید د جرمني په اړوند سفارت کې وسپارل شي.**

**هغه اشخاص چې د ضمني خوندیتوب یا ساتنې حق** لري، له کورنۍ سره د بیا یوځای کېدل یې د ۲۰۱۸ کال د مارچ تر ۱۵مې ځنډېږي (د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر میاشت پر بنا). له دغې مودې وروسته، تاسو د خپل کورنۍ د اسانه متعاقب مهاجرت لپاره د بهرنیو چارو په ایالتي دفتر کې غوښتنلیک سپارلی شئ.
لطفا په یاد ولرئ چې: د پناه غوښتنې په روان طرزالعمل او بهیر کې، له کورنۍ سره د بیا یوځای کېدو غوښتنلیک نه شئ سپارلئ. خو، د کورنۍ غړي مو هماغه وخت هم کولی شي د جرمني له اړوند سفارت سره د لیدلو نېټه یا لیدژمنه وټاکي.

**کریټاس (Magdeburg Bishopric) د کډوالو لپاره د مرستو د یوه صندوق مدیریت کوي، چې د کورنیو د بیا یوځای کېدو چارې کې هم مرسته کوي. د کورنۍ د پناه غوښتنې او ورپسې د کورنۍ مهاجرت یا سفر په اړه نور مالومات له دې ځایه لاسته راوړلی شئ.**

## د پناه غوښتنې او د کډوالو د خوندیتابه یا ساتنې په اړه نور مالومات

د کډوالو او مهاجرینو ایالتي دفتر (BAMF) په جرمني کې د استوګنې حق او د پناه غوښتنې طرزالعمل یا بهیر په اړه بشپړ مالومات پر خپلې وېبپاڼې۱ او پر انلاین مجلې Ablauf des deutschen Asylverfahrens وړاندې کوي.

# ټاکل شوي مهم ادرسونه او د مشورو مرکزونه

## Beratung und Begleitung

**د کډوالۍ مشورې په زکسوني-انالټ کې**
www.integriert-in-sachsen-anhalt.de

**ضافي مشورې او مرستې**
www.integriert-in-sachsen-anhalt.de/beratung-und-netzwerke/beratungsstellen/gesonderte-beratung-und-betreuung/

**په زکسوني-انالټ کې د کریټاس له خوا د طرزالعمل یا بهیر په اړه د پناه غوښتنې عارضینو لپاره مالومات** [د پناه غوښتنې طرزالعمل یا بهیر د مشورو مرکز]
www.caritas.de
Telefon: +49 3941 609300

**پخپله خوښه ستنېدل**
د ستنېدو وړتیا مرکز. د دریم هېواد د اتباعو لپاره پخپله خوښه د ستنېدو مشورو نقطه یا اړیکه.
www.magdeburgerstadtmission.de/arbeitsgebiete/kompetenzzentrum-rueckkehr/

## جرمن ژبه زده کول

**د کډوالۍ مشورو مرکزونه**
www.bamf.de/SiteGlobals/Functions/WebGIS/DE/WebGIS_Migrationserstberatung.html

**ټولنې سره د یوځای کېدو کورسونو موقعیتونه یا ادرسونه**
www.bamf.de/SiteGlobals/Functions/WebGIS/DE/WebGIS_Integrationskursort.html

## کار او روزنه

**مسلکیان په دقت یا فوکس کې**
د کار بازار کې د بهرنیو مسلکي اشخاصو لپاره د هرکلي خدمتونه
www.fachkraft-im-fokus.de
Telefon: 49 152 537 729 43 (HAL), +49 173 8498 196 (MD)

**د دندې مثبت پل**
د کار او روزنې بازار کې د پناه غوښتنې عارضینو او کډوالو ته یوځای کول
Magdeburg
www.jobbruecke-chance.de
Telefon: +49 391 7279882

**شبکه آی کیو - Network IQ د منل کېدو او وړتیاو مشورې**
Halle / Magdeburg
www.sachsen-anhalt.netzwerk-iq.de
Telefon: +49 345 686948-23/-15/-21 (HAL) /
+49 391 40805-15/-10/-13 (MD)

## روغتیا او ساتنه یا خوندیتوب

**له تاوتریخوالي ډکو بریدونو په صورت کې مرستې د محافظه کاره تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره موبایل یا ګرځنده مشورې**
Halle / Magdeburg / Salzwedel / Dessau-Roßlau
www.mobile-opferberatung.de
Telefon: +49 345 2267100 (HAL) / +49 391 6207752 (MD) /
+49 3901 306431 (SAW) / +49 340 6612395 (DE)

**د ښځو لپاره مشورې او مرستې**
د ښځینه کډوالو کور
Halle
www.migration-paritaet-lsa.de/ffh
Telefon: +49 345 5238115

**د مرستې تیلیفون شمېره „د ښځو پر ضد تاوتریخوالی“ (وړیا)**
www.hilfetelefon.de
Telefon: +49 8000 116016

**ویرا – د ښځو د قاچاق او اجباري ودونو اداره**
www.awo-sachsenanhalt.de
Telefon: +49 391 4015371

## د ایډز ـ مرستې

**د ایډز ـ مرستې (Halle / Sachsen-Anhalt Süd e. V., Sachsen-Anhalt Nord e. V.)**
Halle / Magdeburg
www.halle.aidshilfe.de
Telefon: +49 345 5821271 (HAL)

www.aidshilfesachsenanhaltnord.de
Telefon: +49 391 5357690 (MD)

## لارښونه یا بلدتیا او ټولنیز یوځای والی

**په زکسوني ـ انالټ کې خپله د کډوالو سیمه ییزه شبکه (LAMSA) هال**
www.lamsa.de
Telefon: +49 345 17164890

**د هال ـ سالکریس رضاکاره اداري د هرکلي دفتر**
www.freiwilligen-agentur.de/themen-und-projekte/engagiert-fuer-fluechtlinge

**د کډوالو / نویو راغلو اشخاصو سره د مرستې لپاره مشورې خدمتونه او شبکې**
www.integriert-in-sachsen-anhalt.de/netzwerke/

**د زکسوني ـ انالټ د هرکلي پروګرامونه**
www.integriert-in-sachsen-anhalt.de/willkommen/willkommensinitiativen

## ښوونځی او تعلیم

**د خدمتونو دفتر، په کیټا (Kita) او ښوونځي کې کلتوري زده کړې**
www.lerneninterkulturell.de





## د بلدتیا لارښود کتابونه (چاپ شوي او انلاین)

راتلل او نور. په زکسوني ـ انالټ کې د کډوالو لپاره مالوماتي لارښود.
Ankommen und mehr. Erstinformationen für Geflüchtete in Sachsen-Anhalt

د کډوالو لپاره لارښود کتاب
Wegweiser für Neueingewanderte (AGSA)

زکسوني ـ انالټ لپاره لارښود کتاب
Wegweiser nach Sachsen-Anhalt

د مهاجرو د مرستې لارښود. د مهاجرو چارو کې ښکېلو مرستندویانو لپاره لارښونه
Ratgeber Flüchtlingshilfe. Leitfaden für Helferinnen in der Flüchtlingsarbeit. AWO

د مګډیبرګ د کډوالو لارښود کتاب
Migrationswegweiser Magdeburg (für LSA)

د کډوالو لپاره د کار بازار کې د وړاندیزونو په تړاو د بلدتیا لارښود کتاب
Orientierungsleitfaden in Angeboten der Arbeitsmarktintegration von Migrantinnen und Migranten

میندو او پلرونو لپاره مالومات ښوونځی
Eltern-Information Schule (LAMSA)

## په زکسوني ـ انالټ کې د کډوالو او ټولنه کې په ښه ډول یوځای کېدو په خبر موضوعاتو لپاره انټرنټي پاڼې:

- زکسوني ـ انالټ په ټولنه کې په ښه ډول یوځای کېدو پاڼه > په ټولنه کې په ښه ډول یوځای کېدو او ژمنتیا ډګرونو کې د فعالیتونو او پروګرامونو لپاره خدمتي پاڼه او راپورونو بورډ یا پنل. د ایالتي مرکز مګډیبرګ په ټولنه کې په ښه ډول یوځای کېدو پاڼه
- ایالتي مرکز ته د یوځای کېدو، همکاری او ژمنتیا وړاندیزونو لپاره د خدمتونو پاڼه.
- د LAMSA e. V. وېبپاڼه – په زکسوني انالټ کې د کډوالو چارو ادارو وېبپاڼه

willkommen-in-halle > Serviceportal für Menschen mit Migrationsgeschichte für die Stadt Halle

willkommen-in-magdeburg > Serviceportal für Menschen mit Migrationsgeschichte für die Stadt Magdeburg

# مهر یا ټاپه


**خپرونکی**
Auslandsgesellschaft Sachsen-Anhalt e. V. (AGSA)
په زکسوني–انالټ کې ټولنې سره په ښه ډول یوځای کېدو لپاره د ایالتي حکومت کمیشنر په استازیتوب

**ادرس یا پته**
*eine*welt haus, Schellingstraße 3-4 | 39104 Magdeburg
Internet: www.agsa.de | E-Mail: integrationsportal@agsa.de
Telefon: +49 391 5371-271

**متن او ایډیټ**
Dr. E. Stöckmann
**V. i. S. d. P.**
Michael Marquardt, Geschäftsführer der AGSA e. V.
**ډیزاین او طرحه**
Matthias Ramme
**ګرافیک یا انځورونه**
Ka Schmitz
**چاپ**
Quedlinburg Druck



د دغې مجلې محتویات د چاپ حق لخوا خوندي دي. د متن، د متن د ځینو برخو، انځورونو یا ګرافیکو، (په الکترونیک او انلاین رسنیو کې یې د چاپ په ګډون)، د دغو موادو بیا چاپ یا بیا کارول، یوازې د چاپونکي د لیکلي اجازې په صورت کې ممکن دی او اجازه لري.



لومړۍ ګڼه – ۲۰۱۶ دسمبر



ټول حقونه خوندي دي ©
All Rights Reserved ©


SACHSEN-ANHALT
Ministerium für Arbeit, Soziales und Integration

AUSLANDS-GESELLSCHAFT Sachsen-Anhalt


**دغه پروژه په زکسوني–انالټ کې له ټولنې سره په ښه ډول یوځای کېدلو لپاره د ایالتي حکومت د کمیشنر له خوا تمویل شوې وه.**




# Notizen